

# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر

ډاکټر محمد عثمان نظامي

سپاره نمبر 3

# بسم الله الرحمن الرحيم

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۘ مِنْهُمْ مَنْ كَلَّمَ اللَّهُ ۖ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ ۚ وَآتَيْنَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنَاتِ وَأَيَّدْنَاهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ ۗ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِينَ مِنْ بَعْدِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَلَٰكِنِ اخْتَلَفُوا فَمِنْهُمْ

مَنْ آمَنَ وَمِنْهُمْ مَنْ كَفَرَ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا اقْتَتَلُوا وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿253﴾

تِلْكَ الرُّسُل دغه پيغمبران(د آدم عليه سلام څخه د محمد صلى الله عليه وسلم پورې) فَضَّلْنَا مونږ فضليت ورکړئ دی(مونږ بهترې ورکړي ده) بَعْضَهُمْ د دوی نه ځينو ته (د دي پيغمبرانو نه ځينو ته) عَلَىٰ بَعْضٍ ۘ په ځينو باندې(په ځينو نورو پيغمبرانو باندې) مِنْهُمْ د دوی ځيني(چې د دي پيغمبرانو ځيني) مَنْ څوک هغه دي كَلَّمَ اللَّهُ ۖ (چې) الله تعالى ورسره خبرې کړي دي(لکه آدم عليه سلام،موسى عليه سلام او محمد صلى الله عليه وسلم) وَرَفَعَ او هغه جلّ جلاله اوچت کړي دي بَعْضَهُمْ ځيني د دوي دَرَجَاتٍ ۚ په درجو سره(په مرتبو سره،په رتبو سره) وَآتَيْنَا او مونږ ورکړي وي عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ عيسى عليه سلام ځوی د مريم عليها سلام ته الْبَيِّنَاتِ روښانه معجزې وَأَيَّدْنَاهُ او قوت ورکړئ وو مونږ هغه ته(او مونږ قوت ورکړئ وو عيسى عليه سلام ته) بِرُوحِ الْقُدُسِ ۗ په پاک روح سره(په جبرايل عليه سلام سره) وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ او که چيرې الله تعالى غوښتلئ مَا اقْتَتَلَ (نو)جنګونه به نه وو کړي الَّذِينَ هغو (خلکو) مِنْ بَعْدِهِمْ چې وروسته د هغوی نه وو(چې وروسته د دې پيغمبرانو نه وو) مِنْ بَعْدِ مَا پس

د هغې جَاءَتْهُمُ چې راغلي وي دوی ته الْبَيِّنَاتُ روښانه معجزې(او واضحه دلايل).

يعنی كه الله تعالی اراده فرمايلي وه نو د ټولو پيغمبرانو امتيان به مسلمانان او مؤمنان وو،او نه به يې په منځ كې اختلافات وو او نه جنګونه،مګر الله تعالی په جبر او په زور سره څوک نه مجبوروي چې ايمان راوړي، او نه څوک مجبوروي چې انكار او كفر وكړي،ځكه چې:دنيا الله تعالی د امتحان دپاره پيدا كړي ده،د امتحان كوټه ده،انسانان دنيا ته د امتحان وركولو دپاره راليږي،الله تعالی امتحان اخلي او انسان امتحان وركوي: نتايج د حشر په ميدان كې اعلانيږي،كامیابان جنت او ناكامان دوزخ ته ځي،د امتحان سوالونه په لوح محفوظ كې موجود دي،او د زمان او مكان مطابق لحظه -په لحظه هر انسان ته وركول كيږي لكه غريبي،دولت،مريضي،بادشاهي،ځاني او مالي تاوانونه،د رزق پراخي او تنګي او داسې نور.

په لوح محفوظ كې ليكل شوئ تقدير د الله تعالی د علم نه ليكل شوئ دی.

سوالونه ټول د الله تعالی د خوانه دي،مګر د سوالونو جوابونه د بنده د خوانه دي،دا په دې معنی چې:په تقدير كې سوالونه يا واقعات د الله تعالی د طرف نه ليكل شوي دي يعنی د انسان خوښه او اختيار په كې نشته دی،او د سوالونو جوابونه يا د واقعاتو په مقابل كې عكس العملونه د انسان د خوا نه ليكل شوي دي يعنی څنګه چې انسان په خپله خوښه او اختيار عكس العملونه كوي بالكل همداسې ليكل شوي دي چې انسان به په خپله خوښه او اختيار سره داسې-داسې كار كوي ښه يا بد.هره واقعه يو سوال دی ،چې انسان ئې د

واقع کیدو او نه واقع کیدو په باره کې هیڅ اختیار نه لري،کاملاً د انسان د خوښي نه پرته په انسان راځې.

او د هري واقعي په مقابل کې عکس العمل د یو سوال جواب دی چې کاملاً یې انسان په خپل اختیار او اراده سره کوي.یا جواب ورکوي.

که صحیح جواب ورکوي او که غلط، الله تعالی د انسان په جواب ورکولو کې مداخله نه کوي،نه چا ته نقل ورکوي،نه  په چا سوالونه غلطوي،او نه ئې په چا صحیح کوي،بلکې انسان په خپله صحیح یا غلط جواب ورکوي،ځکه که چیرې نعوذوبالله الله تعالی مداخله وکړي او په چا صحیح او په چا غلط جوابونه ورکړي،بیا خو نعوذوبالله د الله تعالی عدالت ته ګوته نیول کیږي ځکه چې تر اوسه به هیڅ چا هم نه لیدلي وی او نه به یې اوریدلي وي چې یو معلم د امتحان په صحنه کې پخپله مداخله وکړي او ځینو شاګردانو ته داسې سوالونه حل کړي چې ټول دي کامیاب شي او ځینو شاګردانو ته دې داسې سوالونه حل کړي چې ټول ناکام شي،او ځینو سره دې هیڅ کار ونه لري،نو داسې یو ذلیل کار چې د انسان څخه یې د کیدلو توقع نه کیږي،نو د داسې کار منسوبول الله تعالی ته په الله تعالی ډېر لوی تهمت او عظیمه ګناه ده،ځکه چې د حشر په میدان کې به یو انسان هم دا ونه وایې چې یا الله فلانکې ته دې هدایت کړئ وو او ما ته دې نه وو کړئ،او یا څوک دا ووایې چې یا الله فلانکی دې جنت ته بوتلو او زه دې دوزخ ته. باید پوه شو چې: دي امتحان ته د اماده کولو او د سوالونو د حلولو دپاره اول انسان ته تعلیم ورکول کیږي،د هر سوال د حلولو صحیح طریقه وربنودل کیږي.چې د دې کار دپاره الله تعالی دنیا ته یولاک څلورویشت زره،زیات او کم پیغمبران او کتابونه رالیږلي دي،چې آخرنی کتاب

قرآنکریم دی چې د امتحان نوعه او د هر سوال جواب پکې شته دی، او د هر چا په فطرت کې یې دا آچولي ده چې: دا ښه دي او دا بد،هر چا ته یې دواړه لارې ورښودلي دي چې دا د جنت لار ده او دا دوزخ لار ده،برسیره پر دې د پیغمبرانو په تعلیم او قرآنکریم باندې د پوهیدلو دپاره یې د علم د حاصلولو اسباب ،پینځه حواس،اوعقل ورکړي،او بلاخره ئې اختیار او اراده ورکړي،تر څو چې د علم او عقل په رڼا کې خپل اختیار او اراده استعمال کړي،خو د پام وړ خبره خو دا ده چې الله تعالی چې دنیا ته انسان راولیږي ،سمدستي ترې امتحان نه اخلي،بلکې د تعلیم دپاره کافي وخت ورکوي،تر څو چې بلوغ ته ورسیږي،علم او عقل یې پوخ شي،او ښه او بد وپیژني نو بیا یې امتحان شروع کیږي.

او که څوک نعوذبالله دا خبره کوي چې الله تعالی دا څنګه مخکي د مخکي په تقدیر کې لیکلي ،نو دا خو کفر دی، دا د الله تعالی علم ته ګوته نیول دي.د دوی جواب دا دی، چې که یو انسان چې علم ئې د الله تعالی د علم په مقایسه د دې نه هم کم دی لکه ستن چې په بحر کې ننباسو او د راوتلو وروسته یې چې د څوکي پورې کومې اوبه نښتې وي،نو د ستنې د څوکې پورې د نښتو اوبو به د بحر د اوبو په مقابیل کې څه حیثیت وي، نو که انسان د دومره کم علم پواسطه د باران،واوري،زلزلي او طوفانونو پشبیني کولای شي،نو د انسان خالق چې لایتناهي علم لري هغه جل جلاله ته دا هیڅ مشکل کار نه دی چې د ټولو کائناتو ،جماداتو،نباتاتو اوانسانانو پیشبیني وکړي.نو که په لوح محفوظ کې په لیکل شوي تقدیر سړی صحیح پوه شي،نو بیا خو مشکل نشته دی او نه د تقدیر په اړه چاته شک پیدا کیږي،لیکن حقیقت دا دی چې اکثره خلک په لوح محفوظ کې د لیکل شوي تقدیر په نیمه خبره پوهیږي،او په نیمه خبره نه پوهیږي

يا نيمه خبره کوي او نيمه نه کوي،مثلاً:په تقدير کې ليکلي دي چې:بشير به په فلانکي تاريخ فلانکي ځای کې په خپله خوښه او اختيار سره غلا کوي.خو دوی صرف په دې پوهيږي چې:په تقدير کې ليکلي دي،چې بشير په فلانکي تاريخ غلا کوي،خو په دې نه پوهيږي چې په تقدير کې دا هم ليکلي دي چې بشير به په خپله خوښه او اختيار سره غلا کوي.همدارنګه په دې نيمه جمله پوهيږي چې په تقدير کې ليکلي دي چې فلانکی به په فلانکي وخت کې قتل کوي،خو په نوره نيمه جمله نه پوهيږي چې :قتل به په خپله خوښه او اختيار سره کوي.مثلاً په دې پوهيږي چې په تقدير کې ليکلي چې فلانکی به په پلانکي وخت کې يو لاک افغانۍ چنده ورکوي مګر په دې نه پوهيږي چې دا هم په کې ليکلي دي چې په خپله خوښه او اختيار به ئې ورکوي.يعنی د بنده ټول اعمال چې په تقدير کې ليکل شوي، نيک وي او که بد،د ټولو سره ليکلي دي چې دا بنده په خپله رضاء،خوښه او اختيار سره کړي دي.خو دوی د دې ځای پورې پوهيږي چې بنده چې اعمال کوي په تقدير کې ليکلي دي، خو په دې نه پوهيږي چې دا هم ليکلي دي چې بنده ټول اعمال نيک وي که بد په خپله خوښه او اختيار سره کوي.

وَلَٰكِنِ اخْتَلَفُوا او ليکن هغوی اختلاف وکړو فَمِنْهُمْ نو د هغوی ځينې مَنْ آمَنَ چا(پخپل اختيار سره) ايمان راوړو وَمِنْهُمْ او د هغوی ځيني مَنْ كَفَرَ ۚ چا(پخپل اختيارسره)انکار وکړو(يعنی الله تعالی په زور سره نه څوک مسلمانان کړي دي او نه ئې څوک کافران کړي دي) وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ او که الله تعالی غوښتلي وو(نو ټول به يې مسلمانان کړي وو) مَا اقْتَتَلُوا (او په خپلو منځونو کې به هغوی جنګونه نه وو کړي،(مګر الله تعالی داسې نه کوي چې جبراً يا څوک مسلمان کړي او يا ئې کافر کړي) وَلَٰكِنَّ اللَّهَ او ليکن الله

تعالى يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ هغه څه کوي چې هغه جل جلاله ئې غواړي( بنده ته موقع ورکوي چې په خپل اختيار او اراده سره د امتحان ټول سوالونه په خپله حل کړي.) ﴿253﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِمَّا رَزَقْنَاكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ لَا بَيْعٌ فِيهِ وَلَا خُلَّةٌ وَلَا شَفَاعَةٌ ۗ وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ ﴿254﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اى هغو خلکو آمَنُوا چې ايمان يې راوړئ(اى مؤمنانو) أَنْفِقُوا تاسو ولګوئ مِمَّا ځينې د هغه مالونو نه رَزَقْنَا كُمْ چې مونږ تاسو ته درکړي دى مِنْ قَبْلِ مخکې د دې څخه أَنْ يَأْتِيَ يَوْمٌ چې هغه ورځ راشي لَا بَيْعٌ فِيهِ چې نه په هغې(ورځ)کې خرڅول او اخستل شته وَلَا خُلَّةٌ او(نه په هغې ورځ کې) دوستي شته(ښځې او خاوندان،مور او پلار او اولادونه،خورګاني او ورونه به يو د بل سره کومک نشي کولاى) وَلَا شَفَاعَةٌ ۚ او نه( په هغې ورځ کې پرته د الله تعالى د حکم نه) شفاعت شته (د الله تعالى د حکم نه پرته هيڅوک د چا شفاعتت نشي کولاى او معلومه خبره ده چې الله تعالى د شفاعت حکم د مؤمنانو په باره کې کوي) وَالْكَافِرُونَ او کافران هُمُ همدوى الظَّالِمُونَ ظالمان دي. ﴿254﴾

اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۖ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿255﴾

اللَّهُ الله تعالی(هغه ذات دی چې) لَا نشته إِلَٰهَ لايق د
عبادت(بتان،انسانان،ملائيکي يو هم د عبادت لايق نه دي) إِلَّا
مګر(د عبادت لايق صرف) هُوَ هغه جل جلاله دی(مګر د
عبادت لايق الله تعالی دی) الْحَيُّ (چې هميشه) ژوندی دی
الْقَيُّومُ ۚ (د کائناتو)د نظام چلونکئ دی(د کائناتو ډيزاينر،جوړونکئ
،چلوونکئ ،پالونکئ او ساتونکئ دی. اليکترونونه ئې د هستو څخه
په مناسبو فاصلو او مدارونو کې ټينګ کړي دي،او مختلف اتومونه
يا د کائناتو د جوړيدلو خښتي ئې ډيزاين او جوړي کړي دي،او
مختلف اتومونه ئې په مناسبو اندازو يو دبل سره يوځای ټينګ کړي
دي،او قسم-قسم ژوندي او غيري ژوندې مخلوقات ئې جوړ کړي
دي، ځمکه ،آسمانونه،کهکشانونه،ستوري،سياري،سپوږمی،ټول ئې
په فضاء کې په مناسبو مدارونو او فاصلو کې ټينګ کړي دي،او په
دوامدار ډول يې يې ساتنه کوي،ټولو ته په دريابونو کې په هوا کې
او په ځمکه کې رزق او انرژې ورکوي،د ټولو پالنه او ساتنه
کوي،ټول کائنات په دوامداره توګه کنټرولوي او چلوي ئې،لحظه په
لحظه په ټول مخلوق باندې نګران دی، او هيڅ شی هم د الله تعالی د
نظر نه غايب نه دی.

لَا تَأْخُذُهُ هغه جل جلاله نه نيسي(په الله تعالی نه راځې) سِنَةٌ
(د خوب)پرکالي وَلَا نَوْمٌ ۚ او نه پخپله خوب(نعوذباالله که په الله
تعالی خوب يا پرکالي راشي،او يوه لحظه ئې د کائناتو نه توجه
واوړي نو په هماغه وخت کې به سمدستي د سيکيند څخه په ډېر کم
وخت کې ټول کائنات ختم شي،ټول کهکشانونه يا
ګلکسيز،ستوری،سولر سيستمونه يا شمسي نظامونه او سياري ټول
به يو د بل د جاذبې او مدارونو نه ووځي،ځمکه به د لمر د جاذبې
او مدار نه ووځي،او سپوږمۍ به د ځمکې د جاذبې او مدار نه

ووځي، الکترون به د اتوم د هستي يا نوکليوس د مدار څخه ووځي
او د اتوم ساختمان به مات شي او د سيکينډ نه به په ډېر کم وخت
کې ټول کائنات ختم شي) لَهُ د هغه جل جلاله دي(د الله تعالی
دي) مَا هر هغه څه فِي السَّمَاوَاتِ چې په آسمانونو کې دي
وَمَا او هر هغه څه فِي الْأَرْضِ ۗ چې په ځمکه کې
دي(آسمانونه،ځمکه او ټومره جمادات،نباتات،حيوانات ، انسانان او
قوانين چې په کائناتو کې کارفرما دي دا ټول صرف د الله تعالی
ملکيت دی،او دا ټول قوانين چې ساينسدانان ورته طبيعي قوانين
وايي،دا د الله تعالی قوانين دي چې د کائناتو د چلولو دپاره ئې جوړ
کړي دي او په همدې قوانينو کائنات چلوي،طبيعت خو پخپله د
همدې قوانينو پواسطه الله تعالی جوړ کړئ دی.ځکه چې د بيګ
بينګ په اول سيکينډ په اول وخت کې د اتوم او طبيعت د جوړيدو
نه مخکې دا قوانين موجود وو،په همدې قوانينو الله تعالی اتوم او
طبيعت جوړ کړو فلهذا د الله تعالی قوانينو ته د بي عقله طبيعت يا
نيچر قوانين ويل دا ډېره لويه ګناه او ظلم دی.) مَنْ ذَا الَّذِي څوک
به وي هغه کس يَشْفَعُ چې شفاعت به وکړي(د چا) عِنْدَهُ د
هغه جل جلاله په وړاندې(بلکې هيڅوک د چا شفاعت د الله تعالی په
وړاندې نشي کولای) إِلَّا مګر بِإِذْنِهِ ۚ د هغه جل جلاله په حکم
سره(شفاعت کولای شي،ځکه څوک چې قاضي يا حاکم ته د چا
سفارش کوي نو ورته وايي چې دا ډېر ښه سړی دی،تاسو ته د ده په
باره کې غلط معلومات درکول شوئ دی،مګر د الله تعالی په وړاندې
خو څوک داسې خبرې نشي کولای ځکه چې:) يَعْلَمُ هغه جل جلاله
پوهيږي مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ په هر هغه څه چې د دوی په مخکې دي
وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ او په هر هغه څه چې د دوی ورسته دي(يعنی الله تعالی
ته د بندګانو ټول اعمال او احوال معلوم دي،نو د محدود علم خاوند
بنده به د لامحدود علم خاوند الله تعالی ته د بنده په باره کې څه

معلومات ورکړي،نو صرف هغه څوک به شفاعت کولای شي چې الله تعالی ورته حکم او اجازه وکړي وَلَا يُحِيطُونَ او دوی نشي احاطه کولای بِشَيْءٍ هیڅ شی مِنْ عِلْمِهِ د هغه جل جلاله د علم څخه إِلَّا مګر بِمَا هغه چې شَاءَ ۚ هغه جل جلاله وغواړي(یعنی د ټولو رسولانو علیهم سلام او د ټولو اولیاوالله رحمت الله علیهم علمونه عطایې او محدود دي) وَسِعَ احاطه کړي دي كُرْسِيُّهُ کرسی د هغه جل جلاله السَّمَاوَاتِ آسمانونه وَالْأَرْضَ ۖ او ځمکه(د الله تعالی پاچاهي او حکومت په آسمانونو او ځمکه باندي دی.) وَلَا يَئُودُهُ او نه ستړئ کوي هغه جل جلاله حِفْظُهُمَا ۚ ساتنه د دي دواړو(ځمکي او آسمانونو) وَهُوَ او هغه جل جلاله الْعَلِيُّ ډېر اوچت الْعَظِيمُ ډېر لوی دی. ﴿255﴾

لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ ۖ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انْفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿256﴾

لَا إِكْرَاهَ نشته جبر(او زور) فِي الدِّينِ ۖ په دین(منلو )کې قَدْ بیشکه تَبَيَّنَ واضحه(بیله)شوي ده الرُّشْدُ سمه لار مِنَ الْغَيِّ ۚ د ګمراهی(او بدې لارې) نه فَمَنْ نو څوک چې يَكْفُرْ انکار کوي بِالطَّاغُوتِ د طاغوت(شیطان،بت)نه وَيُؤْمِنْ او ایمان راوړي بِاللَّهِ په الله تعالی باندي فَقَدِ نو بیشکه اسْتَمْسَكَ چې هغه ونیوله بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ داسي کلکه کړئ لَا انْفِصَامَ چې نشته ماتیدل لَهَا ۗ د هغې وَاللَّهُ او الله تعالی سَمِيعٌ ښه اوریدونکئ عَلِيمٌ او ښه پوه دی. ﴿256﴾

اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُمْ مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ ۗ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿257﴾

اللَّهُ الله تعالى وَلِيُّ الَّذِينَ د هغو خلكو دوست دى آمَنُوا چې هغوى ايمان راوړئ دى يُخْرِجُهُمْ هغه جل جلاله راوباسي هغوى مِنَ الظُّلُمَاتِ د تيارو نه(د كفر د تيارو نه) إِلَى النُّورِ ۖ رڼا ته(د اسلام رڼا ته) وَالَّذِينَ او هغه خلک كَفَرُوا چې كارفران شوي دي أَوْلِيَاؤُهُمُ دوستان د هغوي الطَّاغُوتُ شيطانان دي يُخْرِجُونَهُمْ (چې) راوباسي هغوى(راكاږي هغوى) مِنَ النُّورِ د رڼا نه(د فطرت د رڼا نه) إِلَى الظُّلُمَاتِ ۗ تيارو ته(د كفر تيارو ته) أُولَٰئِكَ دغه خلک أَصْحَابُ النَّارِ ۖ دوزخيان دي هُمْ فِيهَا (چې)دوى به په دې(دوزخ)كې خَالِدُونَ هميشه اوسيږي. ﴿257﴾

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ ۖ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿258﴾

أَلَمْ تَرَ ايا تا نه دې كتلي إِلَى الَّذِي هغې كس ته(آيا تا د هغه چا په قصه غور نه دى كړئ،آيا تا د نمرود په باره كې غور نه دى كړئ) حَاجَّ چې جګړه ئې كړي وه إِبْرَاهِيمَ د ابراهيم عليه سلام سره فِي رَبِّهِ د هغه عليه سلام د رب په باره كې(چې ستا رب څوک دى؟) أَنْ (په دې سبب)چې آتَاهُ وركړي وه هغه ته اللَّهُ الله تعالى الْمُلْكَ بادشاهي إِذْ قَالَ كله چې وويلي إِبْرَاهِيمُ ابراهيم عليه سلام(نمرود ته) رَبِّيَ چې څما رب الَّذِي هغه دى يُحْيِي

چې ژوندي کول کوي وَيُمِيتُ او مړه کول کوي قَالَ
(نمرود)وويلي أَنَا زه (هم) أُحْيِي ژوندي کول کوم وَأُمِيتُ ۖ او
مړه کول کوم قَالَ إِبْرَاهِيمُ ابراهيم عليه سلام (ورته) وويلي
فَإِنَّ بيشکه اللَّهَ الله تعالی يَأْتِي راخيژوي بِالشَّمْسِ لمر مِنَ
الْمَشْرِقِ د مشرق نه فَأْتِ نو ته راوخيژوه بِهَا هغه(لمر) مِنَ
الْمَغْرِبِ د مغرب نه فَبُهِتَ نو حيران پاتي شو الَّذِي هغه
کس كَفَرَ ۗ چې کافر وو(نمرود) وَاللَّهُ او الله تعالی لَا يَهْدِي
هدايت نه کوي الْقَوْمَ قوم الظَّالِمِينَ د ظالمانو ته. ﴿258﴾

أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا قَالَ أَنَّىٰ يُحْيِي هَٰذِهِ
اللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ فَأَمَاتَهُ اللَّهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُ ۖ قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ قَالَ لَبِثْتُ
يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ۖ قَالَ بَلْ لَبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ
لَمْ يَتَسَنَّهْ ۖ وَانْظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ آيَةً لِلنَّاسِ ۖ وَانْظُرْ إِلَى الْعِظَامِ
كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ
شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿259﴾

بخت نصر يو کافر باچا وو،بيت المقدس ئې وران کړو او د بني اسرائيلو ډېر خلک ئې د ځان سره بنديان بوتلل،چې په دې بنديانو کې عزير عليه سلام هم وو،خو کله چې عزير عليه سلام د بند نه خوشي شو،نو په لار کې په يو وران ښار باندې تير شو چې:ټول ديوالونه يې د چتونو دپاسه غورزيدلي وو،نو د ده په زړه کې دا خبره تيره شوه چې د دې ښار ټول خلک مړه شوي دي،نو دوی به څنګه الله تعالی بيا ژوندي کړي،او دا ښار به بيا څنګه ودان شي.نو الله تعالی په همدې ځای کې هغه مړ کړو،خر ئې هم مړ شو،سل کاله همداسې مړ پاتي شو،نه خوک د ده په مرګ باندې خبر وو،نه چا ليدلئ وو،په دې وخت کې بخت نصر هم مړ شوئ وو،او يو بل

باچا بيت المقدس بيا ودان کړو،او هغه ښار ئې هم ښه جوړ کړو د
کوم په باره کې چې عزير عليه سلام ته تشويش پيدا شوئ وو.سل
کاله وروسته الله تعالى بيا عزير عليه سلام راژوندئ کړو،که ګوري
چې:د ده د خوړلو او څکلو شيان چې يوه ټوکرئ تازه انځر او
انګور لړ شوده او يو څه شات وو،ټول همغسې صاف،پاک او تازه
ورته پراته دي،او د مړ شوي خر هډوکي ئې وراسته پراته وو،نو
همغه هډوکي الله تعالى د ده په مخکې بيا سره يو ځای کړل،غوښې
او پوستکي ترې تاو شو،خر ژوندئ شو.په دې سلو کلونو کې بني
اسرائيل هم د بند نه خوشي شوي وو،او په خپلو ښارونو کې
اوسيدل،

أَوْ كَالَّذِي يا د هغه کس په شان مَرَّ چې هغه تير شو عَلَىٰ قَرْيَةٍ
په يو کلي باندې وَهِيَ او د هغې کلي(ديوالونه) خَاوِيَةٌ
راوليدلي وو(غورزيدلي وو) عَلَىٰ عُرُوشِهَا په خپلو چتونو
باندې(يعنی اول چتونه وليدلي وو او بيا پرې ديوالونه راوليدلي وو)
قَالَ هغه وويل(عزير عليه سلام وويل:) أَنَّىٰ چې څنګه به يُحْيِي
ژوندي کوي هَٰذِهِ دا(د کلي خلک) اللَّهُ الله تعالى بَعْدَ
وروسته مَوْتِهَا ۖ د دوی د مرګ نه فَأَمَاتَهُ نو هغه مړ کړو(نو
عزير عليه سلام مړ کړو) اللَّهُ الله تعالى مِائَةَ سل عَامٍ کاله
ثُمَّ بيا(سل کاله وروسته) بَعَثَهُ ۖ هغه جل جلاله هغه راژوندئ کړو
(بيا سل کاله وروسته الله تعالى دوباره ژوندئ کړو) قَالَ هغه جل
جلاله وفرمايل(الله تعالى عزير عليه سلام ته وفرمايل) كَمْ لَبِثْتَ ۖ
څومره موده(دلته)پاتې شوئ يې(څومره وخت دلته مړ پروت وې)
قَالَ هغه وويل(عزير عليه سلام وويل) لَبِثْتُ زه پاتې شوئ يم(زه
دلته مړ پروت وم) يَوْمًا يوه ورځ أَوْ يا بَعْضَ يَوْمٍ ۖ يوه
حصه د ورځې) قَالَ هغه جل جلاله وفرمايل بَلْ (داسې نه ده)

بلکي لَبِثْتَ ته پاتي شوئ يې(ته دلته مړ پروت وي) مِائَةَ سل عَامٍ کلونه فَانْظُرْ نو ته وګوره إِلَىٰ طَعَامِكَ خپل خوراک ته وَشَرَابِكَ او( وګوره)خپل څښاک ته(د څکلو شيانو ته) لَمْ يَتَسَنَّهْ ۖ چې هغه خراب شوي نه دي وَانْظُرْ او ته وګوره إِلَىٰ حِمَارِكَ خپل خر ته(چې هډوکي يې وراسته پراته دي) وَلِنَجْعَلَكَ او د دې دپاره( مونږ داسي کړي دي)چې مونږ تا وګرځوو آيَةً دليل(د قدرت په بيا ژوندي کيدلو سره ) لِلنَّاسِ ۖ د انسانانو دپاره وَانْظُرْ او ته اوګوره إِلَى الْعِظَامِ (دخره) هډوکو ته كَيْفَ (چې) څنګه نُنْشِزُهَا مونږ هغه يوځاى کوو ثُمَّ بيا نَكْسُوهَا ( څنګه) وراغوندو مونږ هغې(هډوکو)ته لَحْمًا ۚ غوښې(عزير عليه سلام ورته کتل چې ټول هډوکي په ترتيب سره يو ځاى شول،بيا غوښې پرې راشنې شوي او پوستکي ورباندې خواره شول،بيا د الله تعالى په قدرت سره په کې ساه ننوتله،د خپل ځاى نه پاځيدو،او وئې هنګل(اواز ئې وکړو) فَلَمَّا نو کله چې تَبَيَّنَ لَهُ ده ته ښکاره شو (دا بيا راژوندې کيدل) قَالَ هغه وويل(عزير عليه سلام وويل) أَعْلَمُ زه پوهيږم أَنَّ اللَّهَ بيشکه چې الله تعالى عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ په هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دى. ﴿259﴾

(بيا عزير عليه سلام د دې ځاى نه پاځيدو او بيت المقدس ته لاړووهلته ئې هيڅوک ونه پيژندل،ځکه چې دا خو همغسې ځلمى پاتې وو،او د ده د پخوا زماني هلکان څوک مړه شوي وو،او څوک ډېر سپين ګيري شوي وو،کله چې ده وويل چې«زه عزير عليه سلام يم»خلقو ونه منله،نو ده د خپلې دعوې او خبرې د ثبوت دپاره دوى ته تورات د ياده واورولو.نو د خلکو باور پرې وشو،چې دا بيشکه همغه نبي عليه سلام دى،ځکه چې بخت نصر ټول کتابونه سوځولي

وو چې په هغې کې تورات هم وو،او عزير عليه سلام خو د تورات حافظ وو.)

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَىٰ ۖ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ ۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِنْ لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي ۖ قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ اجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا ۚ وَاعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿260﴾

وَإِذْ او هر كله چې قَالَ وويلې إِبْرَاهِيمُ ابراهيم عليه سلام رَبِّ اى ځما ربه أَرِنِي ماته راوښايه كَيْفَ چې څنګه تُحْيِي ته ژوندې كوې الْمَوْتَىٰ ۖ مړي قَالَ هغه جل جلاله وفرمايل أَوَلَمْ تُؤْمِنْ ۖ آيا ته باور نه لرې(چې زه مړي ژوندې كوم؟) قَالَ ابراهيم عليه سلام وويلې بَلَىٰ ولې نه(زه باور لرم چې ته مړي ژوندي كوې) وَلَٰكِنْ مګر لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي ۖ د دې دپاره چې زړه مې مطمئين شي قَالَ الله تعالى وفرمايل فَخُذْ نو ونيسه أَرْبَعَةً څلور مِنَ الطَّيْرِ د مرغانو څخه فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ بيا هغوى د خپل ځان سره(د بلدولو نه وروسته)توټې-توټې كړه ثُمَّ بيا اجْعَلْ كيږده عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ په هر غر باندې مِنْهُنَّ د هغوى جُزْءًا يوه-يوه حصه ثُمَّ بيا ادْعُهُنَّ دوى راوبله(بيا يې راوغواړه) يَأْتِينَكَ (نو)هغوى به راځې تاته سَعْيًا ۚ په منډو-منډو وَاعْلَمْ او پوه شه أَنَّ چې بيشكه اللَّهَ الله تعالى عَزِيزٌ ډير غالب حَكِيمٌ (او)حكيم دى. ﴿260﴾

مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ ۗ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿261﴾

مَثَلُ الَّذِينَ د هغو خلکو مثال يُنْفِقُونَ چې هغوی لګوي أَمْوَالَهُمْ مالونه خپل فِي سَبِيلِ په لار کې اللَّهِ د الله تعالی (د دوی مثال) كَمَثَلِ لکه په شان حَبَّةٍ (د هغې يوې)داني دی(چې وکرل شي او) أَنْبَتَتْ زرغون کړي(شنه کړي،وکړي) سَبْعَ اوه سَنَابِلَ وږي فِي كُلِّ (او) په هر سُنْبُلَةٍ وږي کې مِائَةُ سل حَبَّةٍ ۗ داني وي وَاللَّهُ او(همدارنګه) الله تعالی يُضَاعِفُ زياتوي(اجر) لِمَنْ د چا دپاره چې: يَشَاءُ ۗ وغواړي وَاللَّهُ او الله تعالی وَاسِعٌ ډېر فراخی والا عَلِيمٌ (او)ښه پوه دی. ﴿261﴾

الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنْفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى ۙ لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿262﴾

الَّذِينَ هغه خلک يُنْفِقُونَ چې لګوي(خيراتوي) أَمْوَالَهُمْ خپل مالونه(يعنی چې د غلا او حرامو مالونو باندې د رياء او ځان خودلو دپاره خيراتونه او مسجدونه نه جوړوي.) فِي سَبِيلِ اللَّهِ د الله تعالی په لار کې ثُمَّ بيا لَا يُتْبِعُونَ نه کوي وروسته مَا أَنْفَقُوا د هغې مال د خيراتولو نه(يعنی د خيرات ورکولو نه پس په چا باندې نه کوي) مَنًّا احسان وَلَا أَذًى ۙ اونه(چاته)ضرر رسوي(نه غريب ته داسې وايې چې غريبان خو ډېر وو خو ما په تا دا احسان وکړو چې خيرات مې درکړو،او نه ورته داسې روحي تکليف رسوي چې هر ځای کې وايې چې د فلانکي کار ډېر خراب وو او ما ورسره دومره کومک وکړو،او يا د خيرات ورکولو په مقابيل کې ورڅخه خپل قدر او عزت کول غواړي او يا ترې د کوم کار کولو طمع لري.) لَهُمْ دوی ته أَجْرُهُمْ د دوی اجر عِنْدَ رَبِّهِمْ د هغوی د رب سره دی(د داسې خلکو اجر د الله تعالی سره دی) وَلَا خَوْفٌ او(په داسې خلکو چې د خيرات ورکولو نه وروسته نه په چا احسان

کوي،او نه ضرر ورسوي يعنی نه پيغور ورکوي او نه پرې کوم کار کوي)نه به ويره وي عَلَيْهِمْ په هغوی باندې وَلَا هُمْ او نه به هغوی يَحْزَنُونَ غمجن کيږي ﴿262﴾

قَوْلٌ مَعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِنْ صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى ۗ وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ ﴿263﴾

قَوْلٌ مَعْرُوفٌ يوه خوږه خبره کول وَمَغْفِرَةٌ او د يوې بدې خبرې نه تيريدل(يعنی يو محتاج انسان ته يوه ښه خبره کول او يا د هغه د کومې بدې خبرې په مقابل کې هغه ته ښښنه کول) خَيْرٌ ډېر ښه دي مِنْ صَدَقَةٍ د (داسې) خيرات نه يَتْبَعُهَا چې د هغې(خيرات)پسې أَذًى ۗ ازارول وي(چې يا پرې احسان کوې او يا پيغورونه ورکوي) وَاللَّهُ او الله تعالی غَنِيٌّ بې پروا دی(ستاسو خيراتونو ته ضرورت نه لري،بلکې ستاسو نه امتحان اخلي) حَلِيمٌ او تحمل والا دی(داسې نه ده چې يا عذاب نشي درکولای او يا ئې نه درکوي بلکې د توبې وښکلو چانس او مهلت درکوي.) ﴿263﴾

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَىٰ كَالَّذِي يُنْفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُ وَابِلٌ فَتَرَكَهُ صَلْدًا ۖ لَا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَيْءٍ مِمَّا كَسَبُوا ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ ﴿264﴾

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ ای هغو خلکو آمَنُوا چې ايمان يې راوړی دی(ای مؤمنانو) لَا تُبْطِلُوا مه بربادوئ صَدَقَاتِكُمْ خپل خيراتونه بِالْمَنِّ

په احسان کولو وَالْأَذَىٰ او ضرر رسولو سره(ای مؤمنانو خپل خیراتونه په فقیرانو او سوالګرو باندې په احسان کولو،او ضرر رسولو سره مه بربادوئ چې یا پیغورونه ورکوئ او یا بدې خبرې ورته کوئ) كَالَّذِي لکه د هغه کس په شان يُنْفِقُ چې مصرفوي مَالَهُ خپل مال رِئَاءَ النَّاسِ خلکو ته د ځان ښودلو دپاره وَلَا يُؤْمِنُ او باور نه لري بِاللَّهِ په الله تعالی وَالْيَوْمِ او په ورځ الْآخِرِ ۖ د قیامت سره(د الله تعالی رضاء یې مطلب نه وي،صرف په خلکو کې شهرت او عزت غواړي) فَمَثَلُهُ نو مثال(د خیراتونو) د دغه ریاکار كَمَثَلِ لکه په شان صَفْوَانٍ د یوې خویې تیږې دی عَلَيْهِ چې په هغې باندې تُرَابٌ خاوره(پرته)وي فَأَصَابَهُ نو وورېږي په هغې(تیږې) وَابِلٌ تیز باران(او ټوله خاوره ترې ویسي) فَتَرَكَهُ نو پاتې شي هغه(تیږه) صَلْدًا ۖ خویه پاکه(همدارنګه د خیراتونو اجر او ثواب هم د ریاء او احسان اچولو په سبب داسې د منځه ورل کیږي لکه باران چې د خویې تیږې نه ګرد او خاوره وړي) لَا يَقْدِرُونَ ( نو دغه قسم ریاکار خلک)قدرت نه لري عَلَىٰ شَيْءٍ په هیڅ شي باندې(د اجر او ثواب د لاس ته راوړلو) مِمَّا د هغې خیراتونو كَسَبُوا ۗ چې دوی کړي دي.(یعنی دې ریاکارانو چې څومره د ریا خیراتونه کړي دي د هغې به هیڅ اجر او ثواب دوی ته په لاس ورنشي) وَاللَّهُ او الله تعالی لَا يَهْدِي هدایت نه کوي الْقَوْمَ قوم الْكَافِرِينَ د کافرانو ته. ﴿264﴾

وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَتَثْبِيتًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَآتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ فَإِنْ لَمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿265﴾

وَمَثَلُ او مثال الَّذِينَ د هغو خلکو يُنْفِقُونَ چې مصرفوي أَمْوَالَهُمُ خپل مالونه ابْتِغَاءَ دپاره د طلب(او غوښتني) مَرْضَاتِ د رضاء اللَّهِ د الله تعالی وَتَثْبِيتًا او دپاره د کلکولو مِنْ أَنْفُسِهِمْ د زړونو د هغوی(د دوی مثال) كَمَثَلِ په شان جَنَّةٍ د یو باغ دی بِرَبْوَةٍ په غوندی باندې أَصَابَهَا وَابِلٌ که چیرته پرې زورور باران وشي فَآتَتْ نو دغه(باغ) ورکوي أُكُلَهَا میوې خپلي ضِعْفَيْنِ دوه چنده فَإِنْ او که لَمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ زورور بارن پرې ونشي فَطَلٌّ ۗ نو نری باران(هم) ورته کافي دی وَاللَّهُ او الله تعالی بِمَا په هغو عملونو باندې تَعْمَلُونَ چې تاسو یې کوئ بَصِيرٌ لیدونکئ دی. ﴿265﴾

أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ أَنْ تَكُونَ لَهُ جَنَّةٌ مِنْ نَخِيلٍ وَأَعْنَابٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ لَهُ فِيهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَأَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهُ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَاءُ فَأَصَابَهَا إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿266﴾

أَيَوَدُّ أَحَدُكُمْ آیا په تاسو کې یو کس دا خوښوي أَنْ تَكُونَ چې وي دي لَهُ جَنَّةٌ دهغه یو باغ مِنْ نَخِيلٍ د خرماوو وَأَعْنَابٍ او انګورو تَجْرِي چې بهیږي مِنْ تَحْتِهَا د هغه لاندې الْأَنْهَارُ ولې لَهُ فِيهَا او د هغه دپاره په دې باغ کې مِنْ كُلِّ د هر قسم الثَّمَرَاتِ میوو څخه وي وَأَصَابَهُ الْكِبَرُ (نو) په داسې حال کې چې هغه زوړ شي وَلَهُ او د هغه ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَاءُ کمزوري اولادونه

وي(نه په خپله نور د کار وي او نه يې اولادونه، فَأَصَابَهَا نو(په
همدې حالت کې چې د باغ ګټې او ميوو ته ډېر ضرورت لري،)نو
راوالوزي په دغه باغ إِعْصَارٌ ډېر سخت باد فِيهِ نَارٌ چې په کې
اور وي فَاحْتَرَقَتْ ۗ نو هغه باغ وسوځوي(او سړی نور هيڅ نشي
کولای په دې عمر کې نه کار کولای شي او نه بيا بل باغ جوړولای
شي،او اولادونه هم ورسره کومک نشي کولای،بلکې برعکس
اولادونه خو يې د ده نه غواړي.همدارنګه ريا کاري او ځان
ښودنه،په خلکو د الله تعالى د مالونو احسان کول،پيغورونه ورکول
او ضرر ورسول هم د بنده نيک اعمال سوځوي،کله چې د بنده عمر
په دنيا کې خلاص شي،د ځنکدن په وخت کې،په قبر کې او د حشر
په ميدان کې چې د نيکو اعمالو ضرورت وي،نو نيک اعمال خو د
رياکارۍ،احسان،ظلمونو او ګناهونو په اور سوي يې،نو بنده نه
بيرته دنيا ته راتلای شي چې نور نيک اعمال وکړي،او نه ئې هلته
د حشر په ميدان کې د چا نه اخستۍ شي،ځکه چې خلک خو لکه
څنګه چې کمزوري اولادونه يې د مفلس پلار څخه
غواړي،همدارنګه د حشر په ميدان کې به نور خلک هم د ده څخه
خپل حق غواړي ځکه چې ده خو به په دنيا کې پرې ظلمونه کړي
وي،نو که نيک اعمال ورسره وي هغه به په بدل کې ورکوي،او که
نيک عمل ورسره نه وي نو بيا به د هغه بدي پرې وراچول کيږي.)
كَذَٰلِكَ همدارنګه يُبَيِّنُ بيانوي اللَّهُ الله تعالى لَكُمُ ستاسو دپاره
الْآيَاتِ آياتونه(مثالونه) لَعَلَّكُمْ د دې دپاره تَتَفَكَّرُونَ چې تاسو
فکر وکړئ. ﴿266﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلَّا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿267﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اى هغو خلكو آمَنُوا چې ايمان يې راوړئ دى(اى مؤمنانو) أَنْفِقُوا تاسو لګوئ(د الله تعالى په لار كې) مِنْ طَيِّبَاتِ مَا د هغو پاكو مالونو نه كَسَبْتُمْ چې تاسو ګټلي دي(په حلال ډول) وَمِمَّا او د هغو(پاكو شيانو نه) أَخْرَجْنَا چې:مونږ راويستلي دي لَكُمْ ستاسو دپاره مِنَ الْأَرْضِ ۖ د ځمكې نه وَلَا تَيَمَّمُوا او تاسو اراده مه كوئ (چې د الله تعالى په لار كې وركړئ) الْخَبِيثَ خبيث(يعنى خراب او بيكاره شيان،.) مِنْهُ د هغه مال نه تُنْفِقُونَ چې تاسو يې د الله تعالى په لار كې لګوئ(په ټولو مالونو كې ګرزئ،هماغه مالونه راټولوئ چې د ټولو نه خراب وي او تاسو ته بې فايدې وي،نو هغه بيا د الله تعالى په لار كې مصرفوئ) وَ حال دا چې لَسْتُمْ تاسو نه ياستئ بِآخِذِيهِ اخستونكي د داسې (مال يعنى كوم قسم مال چې تاسو د الله په نوم وركوئ،كه همداسې مال تاسو ته څوک دركوي نو تاسو يې نه خوښوئ او نه يې اخلئ ) إِلَّا مګر(په هغه صورت كې يې اخلئ) أَنْ چې تُغْمِضُوا فِيهِ ۚ سترګې پرې پټې كړى(او وا يې خلئ،مثلاً كه قرضدار درته په قرض كې څه مال راوړي،كه چيرته خراب او بيكاره هم وي سره د دې چې نه يې تاسو خوښوئ او نه يې اخستل غواړئ،خو بيا هم سترګې پرې پټوئ او مال اخلئ، وَاعْلَمُوا او پوه شئ أَنَّ اللَّهَ چې بيشكه الله تعالى غَنِيٌّ بې پروا دى(ستاسو خيراتونو ته ضرورت نه لري) حَمِيدٌ ډېر ستايل شوئ دى. ﴿267﴾

الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ ۖ وَاللَّهُ يَعِدُكُمْ مَغْفِرَةً مِنْهُ وَفَضْلًا ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿268﴾

الشَّيْطَانُ شيطان يَعِدُ ويروي كُمُ تاسو الْفَقْرَ د غريبۍ نه(كه د الله تعالى د رضاء دپاره مصرف كوئ،درته وايي چې غريب به شي،پيسې به دې كمي شي) وَيَأْمُرُ او امر كوي كُمْ تاسو ته بِالْفَحْشَاءِ ۖ په بې حيايۍ(خو په ناروا او غلطو كارونو لكه زنا،سنيما و غيره كې بيا د پيسو لګولو مشوره دركوي،درته وايي چې پاتي دنيا ده په پيسو څه كوې، مزې كوه) وَاللَّهُ او الله تعالى يَعِدُ وعده كوي كُمْ ستاسو سره مَغْفِرَةً د ښښني(د ګناهونو) مِنْهُ د هغه جل جلاله د طرفه وَفَضْلًا ۗ او د مهربانۍ وَاللَّهُ او الله تعالى وَاسِعٌ پراخه فضل والا دى عَلِيمٌ (او) پوه دى ﴿268﴾

يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿269﴾

يُؤْتِي وركوي الْحِكْمَةَ حكمت(د دين پوهه) مَنْ يَشَاءُ ۚ چاته چې هغه جل جلاله وغواړي وَمَنْ يُؤْتَ او چا ته چې وركول شي الْحِكْمَةَ حكمت فَقَدْ نو بيشكه چې أُوتِيَ هغه ته وركول شو خَيْرًا خير كَثِيرًا ۗ ډېر لوى وَمَا يَذَّكَّرُ او نصيحت نه اخلي إِلَّا مګر أُولُو الْأَلْبَابِ خاوندان د عقل(او پوهې نصيحت اخلي) ﴿269﴾

وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ نَفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُمْ مِنْ نَذْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴿270﴾

وَمَا او هغه څه أَنْفَقْتُمْ چې تاسو ورکوئ مِنْ نَفَقَةٍ د څه خيرات نه أَوْ يا نَذَرْتُمْ منئ تاسو(په ځان) مِنْ نَذْرٍ د څه نذر نه فَإِنَّ اللَّهَ نو بيشکه الله تعالى يَعْلَمُهُ ۗ پوهيږي په هغې(يعنى ستاسو مصرف او خيرات که د الله په لار کې وي او که د شيطان په لار کې،د الله د رضاء دپاره وي او که د شيطان د رضاء دپاره وي،که په ښه نيت وي او که د رياء او ځان ښودني دپاره وي.يا نذر د الله تعالى د رضاء د پاره د الله په نوم کوئ او که د غيرالله په نوم يې کوئ.نو ستاسو په نيتونو او ټولو اعمالو الله تعالى پوهيږي) وَمَا لِلظَّالِمِينَ او نشته د ظالمانو دپاره مِنْ أَنْصَارٍ هيڅ کومک کوونکئ (چې د الله تعالى د عذاب نه ئې بچ کړي،يعنى څوک چې د شيطان په لار کې مصرفونه او خيراتونه کوي،او د الله تعالى څخه پرته د بل چا په نوم نذرونه ورکوي،دا خلک ظالمان دي،او ظالمانو سره هيڅ څوک د الله د عذاب نه په خلاصولو کې کومک نه کوي) ﴿270﴾

إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ ۖ وَإِنْ تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ ۚ وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ مِنْ سَيِّئَاتِكُمْ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿271﴾

إِنْ که چيرته تُبْدُوا تاسو ښکاره کوئ الصَّدَقَاتِ خيراتونه فَنِعِمَّا هِيَ ۖ نو دا(هم)ښه خبره ده وَإِنْ خو که چيرته تُخْفُوهَا تاسو هغه پټ کوئ وَتُؤْتُوهَا او ورکوئ يې الْفُقَرَاءَ فقيرانو ته فَهُوَ نو دغسې کول خَيْرٌ ډېر بهتر دي لَكُمْ ۚ ستاسو دپاره وَيُكَفِّرُ او هغه جل جلاله به لرې کړي عَنْكُمْ ستاسو نه مِنْ (ځنې) د سَيِّئَاتِكُمْ ۗ ستاسو د ګناهونو څخه وَاللَّهُ او الله تعالى بِمَا

په هغو اعمالو باندې تَعْمَلُونَ چې تاسو يې کوئ خَبِيرٌ خبر دی
﴿271﴾

لَيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۗ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَلِأَنْفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنْفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ ۚ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿272﴾

لَيْسَ نشته عَلَيْكَ په تا باندې هُدَاهُمْ هدايت د هغوی(په تا باندې هغوی ته د الله تعالی پيغام رسول دي) وَلَٰكِنَّ او ليکن اللَّهَ الله تعالی يَهْدِي هدايت کوي مَنْ چاته يَشَاءُ ۗ چې وغواړي(چا چې د الله تعالی د هدايت د حاصلولو نمبرې پوره کړي وي،او د الله تعالی په عدالت کې د هدايت مستحق وي نو الله تعالی ورته هدايت کوي) وَمَا تُنْفِقُوا او هغه څه چې تاسو مصرفوئ(ای مؤمنانو د الله په لار کې) مِنْ خَيْرٍ څنې د مالونو ښخه فَلِأَنْفُسِكُمْ ۚ نو د خپلو ځانونو دپاره مو دي(فايده او ګټه يې تاسو ته ده) وَمَا تُنْفِقُونَ او تاسو نه مصرفوئ (څه شی) إِلَّا مګر (که مصرفوئ يې،هغه هم ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ ۚ د الله تعالی د رضاء د غوښتلو (دپاره مصرفوئ) وَمَا تُنْفِقُوا او هغه څه چې تاسو مصرفوئ( دالله د رضاء دپاره) مِنْ خَيْرٍ څنې د مالونو ښخه يُوَفَّ ( دهغې اجر او ثواب به)پوره-پوره درکول کيږي إِلَيْكُمْ تاسو ته وَأَنْتُمْ او په تاسو باندې به لَا تُظْلَمُونَ (د اجر او ثواب په درکولو کې)هيڅ ظلم نه کيږي. ﴿272﴾

لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا ۗ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿273﴾

الله تعالی فرمايي چې خيراتونه او صدقات به:

لِلْفُقَرَاءِ فقیرانو ته ورکوئ الَّذِينَ هغو فقیرانو ته أُحْصِرُوا چې
هغوی بند شوي وي فِي سَبِيلِ په لار کې اللَّهِ د الله تعالی لَا
يَسْتَطِيعُونَ چې هغوی نه شي کولای(توان نه لري) ضَرْبًا د
ګرزیدلو فِي الْأَرْضِ په ځمکه کې(چې تجارت او نور کار او بار
وکړی،چې پیسې وګټي او اقتصادي ضرورتونه يې پوره شي،مثلاً
هغه طالبان او علماءحق چې شپه او ورځ یې د الله تعالی دین ته
ورکړي ده،پخپله هم د الله تعالی دین زده کوي او نورو انسانانو ته
يې هم رسوي، دوی خو هم خیټې لري،دوی خو هم ماشومان او
ښځې لري،دوی خو هم ضرورتونه لري،نو که دا خلک هم د پیسو د
ګټلو دپاره کاروبار شروع کړي،کیدای شي چې دوی ستاسو څخه
ډېرې پیسې وګټي او د موټرو او بنګلو خاوندان شي نو د دین تعلیم
او تبلیغ به څوک کوي؟او که دوی د دین تعلیم او تبلیغ کوي نو د
دوی او د دوی د ماشومانو او ښځو به څه کیږي؟د دوی حق ستاسو
په مالونو کې دی،دوی ستاسو د خیراتونو او صدقاتو مستحق دي،دا
تاسو په هغوی کوم احسان نه کوئ،بلکه دا د هغوی په تاسو حق
دی،او تاسو خپله غاړه خلاصوئ،لیکن) يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ جا هلان
په هغوي باندې ګمان کوي أَغْنِيَاءَ د مالدارانو مِنَ التَّعَفُّفِ د
سوال د نه کولو په سبب تَعْرِفُهُمْ ته پیژندلای شې هغوی
بِسِيمَاهُمْ د هغوی په څیرو سره(د دوی د مخونو او لباس نه د
هغوی اقتصادې مشکلات او مجبوریتونه معلومیږي ځکه چې) لَا
يَسْأَلُونَ دوی سوالونه نه کوي النَّاسَ د خلکونه إِلْحَافًا ۗ په
سختی(چې کلک د خلکو پورې نښتي وي) وَمَا او هغه څه تُنْفِقُوا
چې تاسو خیراتوئ مِنْ خَيْرٍ د مال څخه فَإِنَّ اللَّهَ نو بیشکه الله
تعالی بِهِ په هغه باندې عَلِيمٌ پوه دی. ﴿273﴾

الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿274﴾

الَّذِينَ هغه خلک يُنْفِقُونَ چې هغوی مصرفوي أَمْوَالَهُمْ مالونه خپل(د الله دپاره) بِاللَّيْلِ د شپې وَالنَّهَارِ او د ورځې سِرًّا پټ وَعَلَانِيَةً او ښکاره فَلَهُمْ نو هغوی ته أَجْرُهُمْ اجر او ثواب د هغوی عِنْدَ رَبِّهِمْ د هغوی د رب سره دی وَلَا خَوْفٌ او نه ويره شته دی عَلَيْهِمْ په هغوی باندې وَلَا هُمْ او نه هغوی يَحْزَنُونَ غمجن کيږي. ﴿274﴾

الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا ۗ وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ۚ فَمَنْ جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّهِ فَانْتَهَىٰ فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ ۖ وَمَنْ عَادَ فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿275﴾

الَّذِينَ هغه خلک يَأْكُلُونَ چې هغوی خوري الرِّبَا سود لَا يَقُومُونَ هغوی نه راپاځيږي(د قيامت په ورځ د قبرونو نه) إِلَّا مګر(د قيامت په ورځ د قبرونو نه داسې راپاځيږي) كَمَا لکه څنګه چې يَقُومُ پاځيږي الَّذِي هغه کس يَتَخَبَّطُهُ چې هغه ګډوډ کړی وي(هغه ليونی کړی وي) الشَّيْطَانُ شيطان(پيري) مِنَ الْمَسِّ ۚ په سبب د مسه (کولو د هغه،يعنی سودخواره به د قيامت په ورځ د قبرونو نه په داسې حال کې راپاځيږي لکه پيريانو چې نيولي وي) ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ دا حال د دوی په سبب د دې دی چې قَالُوا دوی ويلي چې إِنَّمَا بيشکه خبره دا ده الْبَيْعُ چې تجارت هم مِثْلُ الرِّبَا ۗ د سود په شان دی وَ حال دا چې أَحَلَّ اللَّهُ الله تعالی حلال کړی

دی الْبَيْعَ تجارت وَحَرَّمَ الرِّبَا ۚ او حرام کړئ یې دی سود فَمَنْ
نو څوک جَاءَهُ چې راغئ هغه ته مَوْعِظَةٌ نصیحت مِنْ رَبِّهِ د
طرفه د رب د هغه نه فَانْتَهَىٰ (او فوراً د سود نه) منع شو فَلَهُ
نو د ده دپاره مَا هغه څه(معاف)دي سَلَفَ چې مخکې تیر شوي
دي وَأَمْرُهُ او د ده معامله إِلَى اللَّهِ ۖ الله تعالی ته حواله ده وَمَنْ
او څوک چې عَادَ بیرته سود ته راوګرځي(او سودي کاروبار
شروع کړي) فَأُولَٰئِكَ نو دغه خلک أَصْحَابُ النَّارِ ۖ دوزخیان
دي هُمْ دوی به فِيهَا په دغه دوزخ کې خَالِدُونَ همیشه وي.
﴿275﴾

يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ ﴿276﴾

يَمْحَقُ کموي(ختموي) اللَّهُ الله تعالی الرِّبَا د سود مال(د سود مال
بې برکته او کمیږي) وَيُرْبِي او زیاتوي الصَّدَقَاتِ ۗ
صدقې(څوک چې صدقې او خیراتونه کوي مال یې زیاتیږي)
وَاللَّهُ او الله تعالی لَا يُحِبُّ نه خوښوي كُلَّ هر كَفَّارٍ ناشکره
أَثِيمٍ ګنهګار. ﴿276﴾

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ لَهُمْ
أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿277﴾

إِنَّ بیشکه الَّذِينَ هغه خلک آمَنُوا چې ایمان یې راوړئ دی
وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ او هغوی نیک اعمال کوي وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ او
هغوی لمونځ کوي وَآتَوُا الزَّكَاةَ او هغوی زکات ورکوي لَهُمْ
شته دی دوی ته أَجْرُهُمْ اجر(ثواب)د دوی عِنْدَ رَبِّهِمْ د دوی د
رب سره وَلَا او نشته خَوْفٌ هیڅ ویره عَلَيْهِمْ په دوی باندې
وَلَا هُمْ او نه به دوی يَحْزَنُونَ غمجن کیږي. ﴿277﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿278﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ای هغو خلکو چې ایمان يې راوړئ دی(یعنی ای مؤمنانو) اتَّقُوا تاسو وویریږئ اللَّهَ د الله تعالی نه وَذَرُوا او پریږدئ مَا هغه بَقِيَ چې پاتې شوي دي مِنَ الرِّبَا د سود نه(یعنی د دې حکم نه وروسته، چې په قرضدار ستاسو کوم سود پاتې دی،هغه ورته پریږدئ او ترې نه يې نشئ اخستلای،خپلې د سر اصلي پیسي اخستلای شئ خو ګټه یا سود يې نشئ اخستلای) إِنْ كُنْتُمْ که تاسو يئ مُؤْمِنِينَ مؤمنان. ﴿278﴾

فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ۖ وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿279﴾

فَإِنْ نو که چیرته لَمْ تَفْعَلُوا تاسو داسې ونکړئ(سود پرینږدئ،او د سود کاروبار ته دوام ورکړئ) فَأْذَنُوا نو خبردار شئ بِحَرْبٍ په جنګ باندې مِنَ اللَّهِ د طرف نه د الله تعالی وَرَسُولِهِ ۖ او د هغه جل جلاله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم(ستاسو په خلاف) وَإِنْ او که چیرته تُبْتُمْ تاسو توبه اوباسئ فَلَكُمْ نو ستاسو دپاره رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ رأس المال دی(یعنی اصلي پنګه یا اصلي سرمایه یا هغه پیسې دي چې تاسو قرضدار ته په سود ورکړي دي) لَا تَظْلِمُونَ نه به تاسو ظلم کوئ(چې د اصلي سرمايي نه به زیاتي پیسې یا مال د قرضدار نه اخلئ مثلاً که زر افغانی مو قرضدار ته په سود ورکړي وي،داسې به نه کوئ چې دولس سوه افغانی ترې واخلئ یعنی سود به يې نه اخلئ،بلکې صرف د سر پیسې زر افغانی به

ترېِ اخلئ) وَلَا تُظْلَمُونَ او نه به په تاسو ظلم کيږي(نه به
قرضدار داسې کوي چې ګڼي تاسو اوس د سود نه توبه ويستلې ده
او هغوی د ۱۰۰۰ افغانيو په ځای ۵۰۰ درکړي او يا يې بيخي
درنه کړي،او درته ووايي چې ډېره ګټه دې مخکې رانه اخستې
ده،هغه به کې مجرا کړه،بلکې د سر اصلي سرمايه ۱۰۰۰ افغانۍ به
پوره درکوي ) ﴿279﴾

وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ ۖ إِنْ كُنْتُمْ
تَعْلَمُونَ ﴿280﴾

وَإِنْ او که چيرته كَانَ هغه وي(او که چيرته ستاسو قرضدار
وي) ذُو عُسْرَةٍ تنګ دسته(لاس يې تنګ وي،پيسې ورسره نه وي)
فَنَظِرَةٌ نو مهلت ورکول دي(په تاسو باندې لازم دي چې وخت
ورکړئ) إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ۚ د پراخۍ پورې(تر څو چې پيسې ورسره
پيداشي او وکولای شي چې ستاسو قرض خلاص کړي) وَأَنْ او
که چيرته تَصَدَّقُوا خيرات ورکړئ(يعنی قرض ورته ورووبخئ،نو
دا کار) خَيْرٌ ډېر بهتر دی لَكُمْ ۖ ستاسو دپاره إِنْ كُنْتُمْ که
چيرته تاسو تَعْلَمُونَ پوهيږئ. ﴿280﴾

وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ ۖ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا
يُظْلَمُونَ ﴿281﴾

وَاتَّقُوا او تاسو ووېرېږئ يَوْمًا د هغې ورځې نه تُرْجَعُونَ چې
بيرته به وروستل کيږئ فِيهِ په هغې ورځ کې إِلَى اللَّهِ ۖ الله
تعالی ته ثُمَّ بيا به تُوَفَّىٰ پور-پوره ورکول کيږي كُلُّ نَفْسٍ هر
چا ته(بدل) مَا د هغې(عمل) كَسَبَتْ چې هغه کړي دي وَهُمْ

او په دوی به لَا يُظْلَمُونَ ظلم نه کیږي(چې یا زیاته جزا ورکول شي او یا کم ثواب ورکول شي). ﴿281﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ ۚ وَلْيَكْتُبْ بَيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ ۚ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَنْ يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللَّهُ ۚ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا ۚ فَإِنْ كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ بِالْعَدْلِ ۚ وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ ۖ فَإِنْ لَمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَىٰ ۚ وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَاءُ إِذَا مَا دُعُوا ۚ وَلَا تَسْأَمُوا أَنْ تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَىٰ أَجَلِهِ ۚ ذَٰلِكُمْ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَىٰ أَلَّا تَرْتَابُوا ۖ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا ۗ وَأَشْهِدُوا إِذَا تَبَايَعْتُمْ ۚ وَلَا يُضَارَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ ۚ وَإِنْ تَفْعَلُوا فَإِنَّهُ فُسُوقٌ بِكُمْ ۗ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ ۗ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿282﴾

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ای هغو خلکو چې ایمان مو راوړئ دی إِذَا هر کله چې تَدَايَنْتُمْ تاسو معاملې کوئ(په خپلو منځونو کې) بِدَيْنٍ په قرض سره(یو بل ته قرض ورکوئ) إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى د یوې ټاکلې مودې پورې(د یو معلوم وخت پورې) فَاكْتُبُوهُ ۚ نو تاسو هغه(قرض) لیکئ وَلْيَكْتُبْ او لیکې دې (سند د قرض) بَيْنَكُمْ ستاسو په منځ کې(یعنی د قرض ورکونکې او قرض اخستونکې په منځ کې) كَاتِبٌ یو لیکونکئ بِالْعَدْلِ ۚ په انصاف سره (یعنی د دواړو خواو په منځ کې دې یو ځوک چې هغه ته الله تعالی د لیکلو اهلیت ورکړئ وي،په انصاف سره دې سند ولیکي،واقعاً نه کم او نه زیات) وَلَا يَأْبَ او انکار دې نه کوي كَاتِبٌ (هیڅ یو) لیکونکئ

أَنْ يَكْتُبَ (د سند)د ليکلو نه. كَمَا لکه ښنګه چې عَلَّمَهُ اللَّهُ ۚ الله تعالی هغه ته علم ورکړۍ دی(ليکوال ته) فَلْيَكْتُبْ نو هغه دې(سند)وليکي(نو ليکونکۍ دې سند وليکي) وَلْيُمْلِلِ الَّذِي او هغه ښوک دې بيان کوي(او هغه ښوک دې سند ليکونکي ته اقرار کوي) عَلَيْهِ چې په هغه باندې الْحَقُّ حق وي(چې په هغه باندې قرض وي،) وَلْيَتَّقِ او(د اقرار کولو په وخت کې دې) وويريږي اللَّهَ د الله تعالی نه رَبَّهُ چې رب د هغه دی وَلَا يَبْخَسْ او(اقرار کوونکۍ دې)نه کموي مِنْهُ د هغې(حق قرض نه) شَيْئًا ۚ هيڅ شی(ښنګه چې حقيقت وي هماغسې اقرار به کوي،داسې به نه کوي چې قرض پرې زيات وي او اقرار کم وکړي،مثلاً ليکونکي ته به وايي! وليکه چې: د فلانکي په ما باندې دومره افغانۍ قرض دی،په فلانکۍ معامله کې يې راکړي دي او په فلانکي وخت کې به ئې ورکوم) فَإِنْ او که چيرته كَانَ وي الَّذِي هغه (ښوک) عَلَيْهِ چې په هغه باندې الْحَقُّ حق دی(چې په هغه باندې قرض دی) سَفِيهًا بې عقله أَوْ يا ضَعِيفًا کمزورۍ (ماشوم وي يا ډير زوړ وي او د کمزورۍ په سبب اقرار نشي کولای ) أَوْ يا لَا يَسْتَطِيعُ نشي کولای أَنْ يُمِلَّ هُوَ چې اقرار وکړي هغه(مثلاً ګونګۍ وي يا د تاثير لاندې راغي او خبرې نشي کولای) فَلْيُمْلِلْ نو(په دې صورت کې) بيان دې وکړي(اقرار دې وکړي) وَلِيُّهُ د هغه ولي(يا وکيل) بِالْعَدْلِ ۚ په انصاف سره.

وَاسْتَشْهِدُوا او تاسو شاهدان ونيسۍ(په خپلو معاملو کې) شَهِيدَيْنِ دوه شاهدان مِنْ رِجَالِكُمْ ۖ ستاسو د سړيو نه(چې مسلمانان،عاقلان،بالغان او د شاهدۍ وړ وي) فَإِنْ او که چيرته لَمْ يَكُونَا نه وي رَجُلَيْنِ دوه سړي فَرَجُلٌ نو يو سړۍ وَامْرَأَتَانِ او دوه ښځې مِمَّنْ د هغه چا نه (شاهدان ونيسۍ)

تَرْضَوْنَ چې تاسو ترې راضي ياستئ(د عدالت په سبب،چې د شاهدئ لياقت لري) مِنَ الشُّهَدَاءِ د شاهدانو نه.

(د ښځو دا تعداد د دې دپاره دی أَنْ تَضِلَّ چې:که هيره کړي(شاهدي) إِحْدَاهُمَا يوه د دوی نه فَتُذَكِّرَ نو ورپه ياد به يې کړي إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَىٰ ۚ بله يوه د دوی(يعنی که د يوې نه لږه يا ټوله شاهدي هيره شي نو بله به ئې ورپه زړه کړي)

وَلَا يَأْبَ او انکار دې نه کوي الشُّهَدَاءُ شاهدان إِذَا مَا دُعُوا ۚ هر کله چې هغوی وغوښتل شي (شاهدئ ويلو ته)

وَلَا تَسْأَمُوا او تاسو مه ستړي کيږئ(مه خوابدي کيږئ) أَنْ تَكْتُبُوهُ چې وليکئ هغه(د قرض معامله) صَغِيرًا که لږ وي أَوْ يا كَبِيرًا ډېر وي إِلَىٰ أَجَلِهِ ۚ د نيټې د هغې پورې ذَٰلِكُمْ ستاسو دا کار( ليکل د قرض د سند) أَقْسَطُ ډېره د انصاف خبره ده عِنْدَ اللَّهِ د الله تعالی په وړاندې وَأَقْوَمُ او ډېر مرسته کوونکئ دی لِلشَّهَادَةِ د شاهدئ دپاره وَأَدْنَىٰ او ډېر نيزدې دی دې ته أَلَّا تَرْتَابُوا ۖ چې تاسو په شک کې نشئ (د قرض په نيټه او مقدار کې).

إِلَّا مګر أَنْ تَكُونَ که چيرته وي تِجَارَةً (ستاسو)تجارت حَاضِرَةً لاس په لاس تُدِيرُونَهَا چې چلوئ ئې تاسو(په راکړه او ورکړه سره) بَيْنَكُمْ په خپلو منځونو کې فَلَيْسَ نو نشته عَلَيْكُمْ په تاسو باندې جُنَاحٌ ګناه أَلَّا تَكْتُبُوهَا ۗ چې ونه ليکئ تاسو هغه(معامله يعنی په نقده معامله کې ليکلو ته ضرورت نشته)

وَأَشْهِدُوا او شاهدان ونيسئ إِذَا هر کله چې تَبَايَعْتُمْ ۚ تاسو اخستل او خرڅول کوئ .

وَلَا يُضَارَّ او ضرر(او تکليف بايد)ورنه کول شي كَاتِبٌ (د سند)ليکونکي ته وَلَا شَهِيدٌ ۚ او نه شاهد ته. وَإِنْ او که چيرته

تَفْعَلُوا تاسو وکړو(دا د ضرر کار یعنی سند لیکونکي او شاهد ته ضرر او تکلیف ورسوئ) فَإِنَّهُ نو بیشکه دا فُسُوقٌ گناه ده بِكُمْ ستاسو دپاره وَاتَّقُوا اللَّهَ او د الله تعالی نه ووېرېږئ.

وَيُعَلِّمُكُمُ او تاسو ته (د احکامو)ښودنه کوي اللَّهُ الله تعالی وَاللَّهُ او الله تعالی بِكُلِّ شَيْءٍ په هر شي باندې عَلِيمٌ ښه عالم دی.﴿282﴾

وَإِن كُنتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُواْ كَاتِبًا فَرِهَٰنٌ مَّقْبُوضَةٌ فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُم بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ ٱلَّذِي ٱؤْتُمِنَ أَمَٰنَتَهُۥ وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا تَكْتُمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٌ قَلْبُهُۥ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ (283)

وَإِنْ او که چیرته كُنْتُمْ تاسو یاستئ عَلَىٰ سَفَرٍ په سفر باندې وَلَمْ تَجِدُوا او پیدا کولای نشئ كَاتِبًا یو لیکونکئ فَرِهَانٌ نو یو شی گرو مَقْبُوضَةٌ په قبضه کې ورکړئ(نو د شیانو په گرو اخستلو معامله وکړئ) فَإِنْ نو که چیرته أَمِنَ باور وکړي(اعتماد وکړي) بَعْضُكُمْ بعضې د ستاسو بَعْضًا په بعضو (باندې یعنی که یو څوک په بل چا باور وکړي او کوم شی ترې گرو وانخلي او قرض ورکړي) فَلْيُؤَدِّ نو ادا دې کړي(وردې کړي ) الَّذِي اؤْتُمِنَ هغه سړی چې باور پرې شوئ دی(چاته چې پرته د گروی نه قرض ورکول شوئ دی) أَمَانَتَهُ امانت د هغه(هغه چاته دې بیرته قرض ورکړي چې په ده ئې باور کړئ وو او قرض ئې ورکړئ وو) وَلْيَتَّقِ او ودې ویریږي اللَّهَ د الله تعالی نه رَبَّهُ چې رب د هغه دی.

وَلَا تَكْتُمُوا او مه پټوئ تاسو الشَّهَادَةَ شاهدي وَمَنْ او څوک چې يَكْتُمْهَا پټه کړي هغه(او څوک چې پټه کړي شاهدي) فَإِنَّهُ نو بیشکه هغه آثِمٌ گنهگار دی قَلْبُهُ زړه د هغه وَاللَّهُ او الله

تعالی بِمَا په هغو عملونو تَعْمَلُونَ چې تاسو يې کوئ عَلِيمٌ ښه پوه دی. ﴿283﴾

لِّلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِۗ وَإِن تُبْدُواْ مَا فِيٓ أَنفُسِكُمۡ أَوۡ تُخۡفُوهُ يُحَاسِبۡكُم بِهِ ٱللَّهُۖ فَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ (284)

لِّلَّهِ خاص د الله تعالی دي مَا هغه څه فِي السَّمَاوَاتِ چې په آسمانونو کې دي وَمَا او هغه څه فِي الْأَرْضِ ۗ چې په ځمکه کې دي(ټول کهکشانونه ،ستوري،سیارې،لمر، سپوږمی ،په کائناتو کې ټول قوانین،د ځمکې په داخیل او د ځمکې په مخ چې څومره حیوانات،جمادات،نباتات او انسانان دي دا ټول د الله تعالی دي او صرف د الله تعالی ملکیت دی او د ټولو خالق ،رازق او مالک دی.) وَإِنْ تُبْدُوا او که ښکاره کوئ تاسو مَا هغه څه فِي أَنْفُسِكُمْ چې ستاسو په زړونو کې دي أَوْ تُخْفُوهُ یا پټوئ هغه (یا هغه په زړونو کې پټ ساتئ) يُحَاسِبْكُمْ حساب به کوي ستاسو سره بِهِ په هغې باندې اللَّهُ ۖ الله تعالی(الله تعالی ستاسو په ارادو،نیتونو او پټو او ښکاره اعمالو باندې خبر دی،او حساب ئې درسره کوي. ) فَيَغْفِرُ نو ببښنه کوي لِمَنْ چا ته چې يَشَاءُ هغه جل جلاله وغواړي(د چا اعمال چې د الله تعالی په عدالت کې د ببښني مستحق شي نو الله تعالی ورته ببښنه کوي) وَيُعَذِّبُ او هغه جل جلاله عذاب ورکوي مَنْ چا ته چې يَشَاءُ ۗ هغه جل جلاله وغواړي(د چا اعمال چې د الله تعالی په عدالت کې د عذاب مستحق شي،نو هغه ته عذاب ورکوي) وَاللَّهُ او الله تعالی عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ په هر شي باندې قَدِيرٌ قادر دی.(الله تعالی د بنده ګانو سره په حساب کولو، ثواب او عذاب ورکولو باندې قادر دی) ﴿284﴾

آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ ۚ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴿285﴾

آمَنَ ايمان راوړئ دی! الرَّسُولُ پيغمبر صلى الله عليه وسلم بِمَا په هغه(هدايت) أُنْزِلَ چې نازل شوئ دی إِلَيْهِ هغه صلى الله عليه وسلم ته مِنْ رَبِّهِ د طرفه د رب د هغه صلى الله عليه وسلم وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ او مؤمنانو هم(پرې ايمان راوړئ دی) كُلٌّ ټولو آمَنَ ايمان راوړئ دی بِاللَّهِ په الله تعالى باندې وَمَلَائِكَتِهِ او په ملائكو د هغه جل جلاله وَكُتُبِهِ او په كتابونو د هغه جل جلاله وَرُسُلِهِ او په پيغمبرانو د هغه جل جلاله(او وايې چې) لَا نُفَرِّقُ مونږ فرق نه كوو بَيْنَ (په)منځ أَحَدٍ د هيڅ يو مِنْ رُسُلِهِ ۚ د هغه جل جلاله په پيغمبرانو كې وَقَالُوا او وايې دوى سَمِعْنَا واوريدل مونږ(ستا احكام او هدايت) وَأَطَعْنَا ۖ او اطاعت وكړو مونږ(ستا د احكامو او هدايت) غُفْرَانَكَ (غواړو مونږ) ښننه ستا رَبَّنَا اى زمونږه ربه وَإِلَيْكَ او (خاص)تا ته دي الْمَصِيرُ درتلل( د هر چا.) ﴿285﴾

لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ ۖ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا ۚ أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ ﴿286﴾

لَا يُكَلِّفُ نه مكلف كوي(نه مسؤل كوي) اللَّهُ الله تعالى نَفْسًا يو ځوک إِلَّا مګر وُسْعَهَا ۚ د هغه د طاقت(او توان)په اندازه(ئې مكلف كوي) لَهَا هغه ته مَا (ثواب د)هغو(نيكو اعمالو دى)

كَسَبَتْ چې هغه کړي دي وَعَلَيْهَا او په هغه باندې مَا (ګناه د)هغو بدو اعمالو ده اكْتَسَبَتْ ۗ چې هغه کړي دي.

رَبَّنَا اى زمونږه ربه لَا تُؤَاخِذْنَا مونږ مه نیسه إِنْ نَسِينَا كه مونږ هیر کړو(حکم ستا) أَوْ يا أَخْطَأْنَا ۚ مونږ په خطا سره(ګناه)وکړو رَبَّنَا اى ربه زمونږ وَلَا تَحْمِلْ او مه باروه عَلَيْنَا په مونږ باندې إِصْرًا دروند(بار) كَمَا لکه څنګه چې حَمَلْتَهُ تا بار کړئ وو هغه(بار) عَلَى الَّذِينَ په هغو خلکو باندې مِنْ قَبْلِنَا ۚ چې پخوا له مونږ نه وو رَبَّنَا اى زمونږه ربه وَلَا تُحَمِّلْنَا او مه باروه په مونږ مَا هغه(څه) لَا طَاقَةَ چې نه وي طاقت لَنَا مونږ ته بِهِ ۖ په هغه باندې وَاعْفُ او تیر شه عَنَّا زمونږ(د ګناهونو) نه وَاغْفِرْ لَنَا او ببښنه وکړه مونږ ته وَارْحَمْنَا ۚ او په مونږ رحم وکړه أَنْتَ ته مَوْلَانَا زمونږ مددګار(او دوست) یې فَانْصُرْنَا نو مرسته(او کومک)وکړه نَا زمونږ عَلَى الْقَوْمِ په قوم باندې الْكَافِرِينَ د کافرانو(د کافرانو په مقابل کې زمونږ سره کومک وکړه). ﴿286﴾

سورة آل عمران

# سورة آل عمران

آل عمران سورت مدني دی.۲۰۰آیاتونه او ۲۰ رکوع لري،په تلاوت کې دریم او په نزول کې ۸۹ سورت دی.د الانفال د سورت څخه وروسته نازل شوئ دی.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الٓمٓ (1)

الٓمٓ دي حروفو ته «مقطعات» وايي.په معنی يې الله تعالی پوهيږي(1)

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُ (2)

ٱللَّهُ الله تعالی،

لَآ نشته دی إِلَٰهَ د عبادت لايق(نشته دی حقيقي معبود،څومره شيان چې انسانان ورته عبادت کوي،او د خير او شر د کيدلو عقيده پرې لري،لکه هندوان يې چې په بتانو لري،اتش پرستان يې چې په اور لري او ملحدين يې چې په طبيعت يا نيچر لري،دا ټول دروغ دي.دا يو هم د عبادت لايق نه دي او نه يو حقيقي معبود دی إِلَّا مګر(حقيقي معبود او لايق د عبادت) هُوَ هغه جل جلاله دی(مګر حقيقي معبود او د عبات لايق الله تعالی دی،چې هميشه ٱلۡحَيُّ ژوندی دی(او د کائناتو د نظام) ٱلۡقَيُّومُ اداره کوونکئ(او ساتونکئ دی،په کائناتو کې د الَهي قوانينو جوړونکئ او تطبيقونکئ دی(دې الَهي قوانينو ته ملحد ساينسدانان د طبيعت يا نيچر قوانين وايي)،په لوح محفوظ کې د ليکل شوي تقدير عملي کوونکئ،د هوا په ترکيب کې د اوکسيجن،نايتروجن او کاربن ډای اوکسايډ

په يو حال او يوه اندازه ساتونکئ،لمر او ټولو مخلوقاتو ته لحظه په لحظه د انرجي او رزق برابرونکئ او ورکونکئ دی،او د زرې يا اتوم څخه نيولي د ځمکي او لويو-لويو کهکشانونو د حرکتونو کنټرولونکئ او په منظم او دوامدار ډول د کائناتو لويونکئ دی،او داسې نور بې حسابه مثالونه چې ذکر کول يې دلته ناممکن دي. (2)

نَزَّلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ وَأَنزَلَ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ (3)

مِن قَبۡلُ هُدٗى لِّلنَّاسِ وَأَنزَلَ ٱلۡفُرۡقَانَۗ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدٞۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ (4)

نَزَّلَ هغه جل جلاله نازل کړئ دی عَلَيۡكَ په تا باندې ٱلۡكِتَٰبَ دا کتاب(هغه جل جلاله نازل کړئ دی په تا باندې دا قرآن) بِٱلۡحَقِّ په حق سره (د دې ټول مضامين حق او رښتيا دي) مُصَدِّقٗا چې تصديق کوونکئ دی لِّمَا د هغو(کتابونو) بَيۡنَ يَدَيۡهِ چې پخوا د ده نه وو(چې مخکې د قرآنکريم څنې وو) وَأَنزَلَ او هغه جل جلاله نازل کړي دي ٱلتَّوۡرَىٰةَ تورات وَٱلۡإِنجِيلَ او انجيل (3) مِن قَبۡلُ مخکې د (قرآنکريم نه) هُدٗى لِّلنَّاسِ د خلکو د هدايت دپاره وَ او(په هره زمانه کې د انسانانو د هدايت دپاره) اَنزَلَ هغه جل جلاله نازل کړئ دی ٱلۡفُرۡقَانَۗ فرقان(د حق او باطل بيلوونکئ،چې قرآنکريم،آسماني کتابونه،صحيفې، روښانه دلايل او ښکاره معجزې په کې شامل دي.) إِنَّ بيشکه ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُواْ چې هغوی کافران شوي دي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی په آيتونو باندې(بيشکه هغه خلک چې د الله تعالی د آياتونو څخه منکر شوي دي) لَهُمۡ د دوی دپاره عَذَابٞ شَدِيدٞۗ سخت عذاب دی وَٱللَّهُ او الله تعالی عَزِيزٞ ډېر زورور ذُو ٱنتِقَامٍ (د بدو) بدل ورکوونکئ دی. (4)

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ (5)

إِنَّ ٱللَّهَ بیشکه الله تعالی لَا نه (دی) يَخۡفَىٰ پټ عَلَيۡهِ د هغه جل جلاله نه شَيۡءٞ هیڅ یو شی فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې وَلَا او نه فِي ٱلسَّمَآءِ په آسمان کې(په ځمکه او آسمان کې یو شی هم د الله تعالی څخه پټ نه دی،هرشی ته وجود،انرجې او رزق ورکوي،لحظه په لحظه په کائناتو کې هر وړکی او غټ شی هغه که د ځمکې په خیټه کې وي او که په آسمان کې، ورته ښکاري،پرې خبر دی،او هرشی د هغه جل جلاله د هدایت او کنټرول لاندې چلیږي او کار کوي،مثلاً انسان بیغمه اوده وي یا یې هیڅ فکر نه وي خو د بدن ټولې پورزې یې د هماغه هدایت مطابق کار کوي کوم هدایت چې الله تعالی د هغه په دې این ای کې اچولئ دی(یعنی اینسټال کړئ ئې دی)،او هغه جل جلاله ئې کنټرولوي (5)

هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ (6)

هُوَ هغه جل جلاله ٱلَّذِي هغه(ذات دی) يُصَوِّرُ چې شکلونه جوړوي كُمۡ ستاسو فِي ٱلۡأَرۡحَامِ په رحمونو کې(د مورګانو په ګېډو کې) كَيۡفَ څنګه (چې) يَشَآءُۚ هغه جل جلاله غواړي(دا صرف د هغه جل جلاله خوښه ده او د هغه جل جلاله په قدرت کې ده چې د چا په دې این ای کې څه قسم هدایات او معلومات اچوي(یعنی اینسټال کوي ئې)یعنی کوم قسم شکل او صورت چې الله تعالی غواړي هماغسې معلومات ئې الله تعالی په دې این ای کې اچوي،چې دا کار پرته د الله تعالی څخه نه مخلوق کولای شي او نه ئې د مخلوق تیکنالوجي کولای شي. لَآ نشته دی إِلَٰهَ د عبادت لایق إِلَّا مګر هُوَ هغه جل جلاله دی ٱلۡعَزِيزُ (چې) غالب دی(زورور دی) ٱلۡحَكِيمُ (د حکمت خاوند دی) (6)

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ
فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ
وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ
رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ (7)

هُوَ هغه جل جلاله ٱلَّذِيٓ هغه(ذات)دی(الله تعالی هغه ذات دی) أَنزَلَ چي نازل کړئ ئي دی عَلَيۡكَ په تا باندې ٱلۡكِتَٰبَ کتاب(چي نازل کړئ ئي دی په تا باندې قرآنکریم) مِنۡهُ (چي) د دغه( قرآنکریم) ځني ءَايَٰتٞ آیاتونه مُّحۡكَمَٰتٌ محکم دي(چي معنی او مفهوم يې بالکل واضح او ښکاره دی) هُنَّ دغه(محکم آیاتونه) أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ د کتاب اصل(یعنی د قرآنکریم اساس )دی(د احکامو چي خومره آیاتونه دي ټول محکم دي چي:دا کوئ او دا مه کوئ،دا حرام دي او دا حلال دي.) وَأُخَرُ او نور(آیاتونه) مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ متشابهات دي(چي حقیقي مفهوم او معنی يي معلومه نه وي(په کومو آیاتونو کي چي د الله تعالی د ذات او صفاتو بحث دی په هغو باندې پوهيدل آسان نه دي،مونږ د الله تعالی د ذات او صفاتو په باره کي د الله تعالی د لاس،مخ،کرسی او عرش په باره کي څه تصور کولای شو؟همدارنګه ملائیکي د غیبو د عالم شی دی،دبرزخ کیفیت څنګه دی؟په قبر کي څه کیږي؟او د آخرت،جنت او دوزخ اصلي حقیقت څنګه دی؟نو د دې په اصلي حقیقت مونږ نه پوهیږو) فَأَمَّا ٱلَّذِينَ نو هغه خلک چي د هغوی فِي قُلُوبِهِمۡ په زړونو کي زَيۡغٞ کوږوالی دی فَيَتَّبِعُونَ نو دوی پیروي کوي(ګرځي) مَا د هغه(آیاتونو پسې) تَشَٰبَهَ چي متشابه دي مِنۡهُ د دغه( قرآن)ځني(محکم آیاتونه يې پرایښي دي او متشابه آیاتونو پسي لړیدلي دي) ٱبۡتِغَآءَ (دپاره د) طلب(او لټولو) ٱلۡفِتۡنَةِ د فتنې(فساد او ګمراهی) وَٱبۡتِغَآءَ او(دپاره د)طلب(او معلومولو ) تَأۡوِيلِهِۦۖ د هغوی د معنی(او مفهوم) وَ حال دا دی چي: مَا يَعۡلَمُ نه

پوهيږي تَأۡوِيلَهُۥٓ د هغوى په معنى(او حقيقي مفهوم هيڅوک) إِلَّا مګر ٱللَّهُۗ الله تعالى(يې په حقيقي معنى او مطلب پوهيږي) وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ او کوم خلک چې پاخه عالمان دي يَقُولُونَ دوى وايي چې: ءَامَنَّا مونږ ايمان راوړئ دى بِهِۦ په دې باندې كُلّٞ ټول(محکم آياتونه او متشابه آياتونه يعنى كه معنى ئې واضح او ښکاره ده او كه نه ده) مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ زمونږ د رب د طرف څخه دي وَمَا يَذَّكَّرُ او پند(او نصيحت)نه اخلي إِلَّآ مګر أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ د (خالصو) عقلونو خاوندان (نصيحت قبلوي)(7)

رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ (8)

رَبَّنَا اى زمونږه ربه! لَا تُزِغۡ مه كږوه قُلُوبَنَا زړونه زمونږ بَعۡدَ وروسته إِذۡ د دې هَدَيۡتَنَا چې تا هدايت وكړو مونږ ته( چې تا مونږ ته سمه لاره وښوده) وَهَبۡ او راکړه لَنَا مونږ ته مِن لَّدُنكَ د خپلې خوانه رَحۡمَةًۚ رحمت إِنَّكَ بيشكه ته أَنتَ هم ته ٱلۡوَهَّابُ (د رحمت او نعمتونو)عطا كوونكئ ئې(بيشكه هم ته د رحمت او نعمتونو وركونكئ ئې) (8)

رَبَّنَآ إِنَّكَ جَامِعُ ٱلنَّاسِ لِيَوۡمٖ لَّا رَيۡبَ فِيهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ (9)

رَبَّنَآ اى زمونږه ربه إِنَّكَ بيشكه ته جَامِعُ جمع كوونكئ ٱلنَّاسِ د انسانانو ئې(د حشر په ميدان كې د حساب دپاره) لِيَوۡمٖ په داسې يوه ورځ كې لَّا ( چې) نشته دى رَيۡبَ هيڅ شک فِيهِۚ په هغې كې(د دې

ورځې يعنى د قيامت د ورځې په راتلو کې هيڅ شک نشته،ټول انسانان به الله تعالى ژوندي کړي او د حشر په ميدان کې به ئې د حساب او کتاب دپاره راټول کړي) إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالى لَا يُخۡلِفُ مخالفت نه کوي ٱلۡمِيعَادَ د وعدې. (9)

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَن تُغۡنِيَ عَنۡهُمۡ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗاۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ وَقُودُ ٱلنَّارِ (10)

إِنَّ بيشکه ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُواْ چې کافران شوي دي لَن تُغۡنِيَ دفعه به نکړي(لرې به نکړي) عَنۡهُمۡ د دوى نه أَمۡوَٰلُهُمۡ مالونه د دوى وَلَآ او نه أَوۡلَٰدُهُم اولادونه د دوى مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالى(د عذاب)نه شَيۡـٔٗاۖ يو شى وَأُوْلَٰٓئِكَ او دغه خلک هُمۡ هم دوى وَقُودُ خس ٱلنَّارِ د اور(د دوزخ)دي (10)

كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ بِذُنُوبِهِمۡۗ وَٱللَّهُ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ (11)

څوک چې د الله تعالى،پيغمبر صلى الله عليه وسلام او قرآنکريم نه انکار او کفر کوي،نو د دوي انجام به هم!

كَدَأۡبِ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ لکه د فرعون د ملګرو وَٱلَّذِينَ او د هغو سرکشانو د انجام په شان وي مِن قَبۡلِهِمۡۚ چې د هغوى څخه مخکې وو(چې د هغوى څخه پخوا تير شوي وو لکه ثموديان او عاديان) كَذَّبُواْ چې دروغ يې ويل بِـَٔايَٰتِنَا زمونږ په آياتونو باندې(چې زمونږ آياتونه يې دروغ ګڼل) فَأَخَذَ نو ونيول هُمُ هغوى ٱللَّهُ الله تعالى بِذُنُوبِهِمۡۗ د هغوى په ګناهونو

باندې(نو الله تعالی هغوی د هغوی د ګناهنو په سبب ونیول) وَٱللَّهُ او الله تعالی شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ سخت عذاب ورکوونکئ دی. (11)

قُل لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ سَتُغۡلَبُونَ وَتُحۡشَرُونَ إِلَىٰ جَهَنَّمَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ (12)

قُل ووایه لِّلَّذِينَ هغو خلکو ته كَفَرُواْ چې کافران دي(د الله تعالی او د الله تعالی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او قرآنکریم نه منکر دي چې:) سَتُغۡلَبُونَ زر به مغلوب شئ(ډېر زر به ماتې او شکست وخوری،ډېر زر به ناکام شئ) وَتُحۡشَرُونَ او ورجمع به شئ(او ورټول به شئ) إِلَىٰ جَهَنَّمَۖ جهنم ته(ورجمع به شئ دوزخ ته) وَبِئۡسَ او جهنم بد ځای ٱلۡمِهَادُ د اوسیدلو دی. (12)

قَدۡ كَانَ لَكُمۡ ءَايَةٞ فِي فِئَتَيۡنِ ٱلۡتَقَتَاۖ فِئَةٞ تُقَٰتِلُ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَأُخۡرَىٰ كَافِرَةٞ يَرَوۡنَهُم مِّثۡلَيۡهِمۡ رَأۡيَ ٱلۡعَيۡنِۚ وَٱللَّهُ يُؤَيِّدُ بِنَصۡرِهِۦ مَن يَشَآءُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبۡرَةٗ لِّأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ (13)

قَدۡ كَانَ یقیناً ده لَكُمۡ ستاسو دپاره ءَايَةٞ (دعبرت)یوه نښه فِي فِئَتَيۡنِ په(هغو) دوه ډلوکې(په هغو دوه لښکرو کې چې په بدر کې یوه د بلې سره) ٱلۡتَقَتَاۖ مخ شولې(یوه د بلې سره په جنګ شولې،او په دې دوه ډلو کې) فِئَةٞ یوې ډلې(یو لښکر چې تعداد یې ٣١٣ کسان وو) تُقَٰتِلُ جنګ کولو فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ د الله تعالی په لار کې وَأُخۡرَىٰ او بله ډله(او بل لښکر چې تعداد یې تقریباً (١٠٠٠) کسان وو) كَافِرَةٞ د کافرانو یوه ډله وه(د کافرانو یو لښکر وو) يَرَوۡنَهُم دوی به لیدل هغوی(کافرانو به لیدل مسلمانان،د کافرانو لښکر به لیدلو د مسلمانانو لښکر) مِّثۡلَيۡهِمۡ دوه چنده

د هغوی(دوه چنده د خپل لښکر یعنی د کافرانو لښکر ته چې تقریباً ۱۰۰۰ کسان وو،د مسمانانو لښکر ورته د خپل لښکر دوه چنده یعنی تقریباً دوه زره کسان ښکاریدل،) رَأۡيَ ٱلۡعَيۡنِۚ د سر په سترګو(یعنی کافرانو ته مسلمانان د جنګ په میدان کې د خپل ځان څخه دوه برابره ښکاریدل،د مسلمانانو د رعب او تاثیر لاندې راغلل،مورال یې ضعیفه شو،او سخته ماتې او شکست یې وخوړو،۷۰ کسان یې مړه او ۷۰ کسان یې بندیان شول. وَٱللَّهُ او الله تعالی يُؤَيِّدُ قوت(او طاقت) ورکوي بِنَصۡرِهِۦ په خپل کومک سره مَن يَشَآءُۚ هر چاته چې وغواړي (د هر چا عقیده او عمل چې د الله تعالی په عدالت کې د الله تعالی د نصرت او کومک مستحق شي،الله تعالی ورسره مرسته او کومک کوي) إِنَّ فِي ذَٰلِكَ بیشکه په دې(د بدر په غزا ) کې لَعِبۡرَةٗ خامخا عبرت(پند او نصیحت)دی لِّأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ د بصیرت د خاوندانو دپاره. (13)

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلۡبَنِينَ وَٱلۡقَنَٰطِيرِ ٱلۡمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلۡفِضَّةِ وَٱلۡخَيۡلِ ٱلۡمُسَوَّمَةِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ وَٱلۡحَرۡثِۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلۡمَـَٔابِ (14)

په دنیا کې د امتحان دپاره!

زُيِّنَ ښایسته شوي دي لِلنَّاسِ خلکو ته حُبُّ محبت(او مینه) ٱلشَّهَوَٰتِ د خواهشاتو مِنَ ٱلنِّسَآءِ د ښځو وَٱلۡبَنِينَ او د اولادونو وَٱلۡقَنَٰطِيرِ او د خزانو ٱلۡمُقَنطَرَةِ جمع شوو مِنَ ٱلذَّهَبِ د سرو زرو وَٱلۡفِضَّةِ او د سپینو زرو وَٱلۡخَيۡلِ او د آسونو ٱلۡمُسَوَّمَةِ نشان لرونکو وَٱلۡأَنۡعَٰمِ او د څارویو وَٱلۡحَرۡثِۗ او د فصلونو ذَٰلِكَ دغه(ذکر شوي شیان صرف) مَتَٰعُ وسایل دي(سازو سامان دی) ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ د دنیا د ژوند(ډېر زر دا شیان د هرچانه پاتي کیږي،بیلیږي) وَٱللَّهُ او الله تعالی

عِندَهُۥ د هغه جل جلاله سره حُسۡنُ ډېر ښه ٱلۡمَـَٔابِ د ورتللو ځای دی(چې بیا نه د سړي نه بیلږي او نه ترې پاتې کیږي،یعنی حقیقت دا دی چې د اوسیدلو ډېر ښه او بهترین ځای جنت د الله تعالی سره دی چې د تل دپاره په کې د الله تعالی نیک بندګان اوسیږي)(14)

۞ قُلۡ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيۡرٖ مِّن ذَٰلِكُمۡۖ لِلَّذِينَ ٱتَّقَوۡاْ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَأَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞ وَرِضۡوَٰنٞ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ (15)

هغه خلک چې د دنیا او د دنیا د سازو سامان په محبت کې آخرت ته شاه کوي!

۞ قُلۡ (ورته) ووایه أَؤُنَبِّئُكُم آیا زه خبر درکړم تاسو ته بِخَيۡرٖ په بهتر (شی) باندې مِّن ذَٰلِكُمۡۖ د دغو (دنیاوي خوندونو)نه؟ لِلَّذِينَ (شته دی) د هغو خلکو دپاره ٱتَّقَوۡاْ چې متقیان دي عِندَ رَبِّهِمۡ د هغوی د رب سره جَنَّٰتٞ جنتونه تَجۡرِي چې بهیږي مِن تَحۡتِهَا لاندې د (ونو او ماڼیو)د هغوی ٱلۡأَنۡهَٰرُ ویالې(نهرونه) خَٰلِدِينَ چې(دوی)به تل وي فِيهَا په دې(جنتونو)کې وَأَزۡوَٰجٞ او ښځې مُّطَهَّرَةٞ پاکې وَرِضۡوَٰنٞ او رضا مِّنَ ٱللَّهِۗ د الله تعالی(به وی د متقیانو دپاره) وَٱللَّهُ او الله تعالی بَصِيرُۢ ښه لیدونکۍ دی(په پټو او ښکاره اعمالو) بِٱلۡعِبَادِ د بندګانو باندې. (15)

ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ (16)

دغه متقیان، چا ته چې الله تعالی جنتونه ورکوي!

ٱلَّذِينَ هغه خلک دي يَقُولُونَ چې:هغوی وايي رَبَّنَآ ای زمونږ ربه
إِنَّنَآ بيشکه مونږ ءَامَنَّا ايمان راوړئ دی فَٱغۡفِرۡ نو ببننه وکړه لَنَا
مونږ ته ذُنُوبَنَا د ګناهونو زمونږ وَقِنَا او وساتې مونږ(او بچ کړي
مونږ) عَذَابَ د اور ٱلنَّارِ د دوزخ نه. (16)

او نور صفتونه يې دا دي چې:

ٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلۡقَٰنِتِينَ وَٱلۡمُنفِقِينَ وَٱلۡمُسۡتَغۡفِرِينَ بِٱلۡأَسۡحَارِ (17)
ٱلصَّٰبِرِينَ صبر کوونکي دي وَٱلصَّٰدِقِينَ او رښتيني دي وَٱلۡقَٰنِتِينَ او(د
الله تعالی) حکم منونکي دي وَٱلۡمُنفِقِينَ او خيرت کوونکي دي( دالله
تعالی د رضا دپاره) وَٱلۡمُسۡتَغۡفِرِينَ او (د الله تعالی نه)د ببنني
غوښتونکي دي بِٱلۡأَسۡحَارِ د شپې په اخره برخه کې( په سهار کې)
(17)

شَهِدَ ٱللَّهُ شاهدي وايي الله تعالی(د کائناتو بادشاه چې:ټول مخلوق د هغه
جل جلاله په علم کې دی،او د ټول مخلوق پټ او ښکاره په مستقيم ډول
ډول ګوري،د کائناتو زره-زره ورته معلومه او ترې خبر دی،هغه جل
جلاله فرمائي) أَنَّهُۥ چې بيشک هغه جل جلاله(چې بيشکه الله تعالی) ،
لَآ نشته دی(په کائناتو کې بل) إِلَٰهَ لايق د عبادت(حق معبود) إِلَّا
مګر هُوَ هغه جل جلاله(د عبادت لايق او حق معبود دی) وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ
او فرشتې(هم دا شاهدي وايي ،ځکه چې دوی د الله تعالی د سلطنت کار
کوونکي دي،ورته معلومه ده چې:د الله تعالی په سلطنت کې پرته د ده جل
جلاله څخه بل هيڅوک د عبادت وړ او لايق نشته دی ) وَأُوْلُواْ ٱلۡعِلۡمِ او
دعلم خاوندان قَآئِمَۢا بِٱلۡقِسۡطِ چې په عدل باندې ولاړ وي.(او بالانصافه

او عادل علماء هم دا شاهدي وايي چې: لَآ نشته دی (پرته دالله تعال
ځخه بل) إِلَٰهَ لایق دعبادت(نه بتان لایق د عبادت دي،نه ملائکې،نه
اور،نه لمر،نه طبیعت یا نیچر او نه قبرونه او انسانان د عبادت لایق
دي،او نه د دې لایق دي چې څوک ترې د خیر یا شر غوښتنه او طمع
وکړي،او نه چا ته هیڅ خیر او شر رسولای شي) إِلَّا مګر(د عبادت
لایق او د خیر او شر ورکولو والا صرف) هُوَ هغه جل جلاله دی
ٱلْعَزِيزُ چې ډېر غالب ٱلْحَكِيمُ (او) حکیم دی. (18)

إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلْإِسْلَٰمُۗ وَمَا ٱخْتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ
ٱلْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْۗ وَمَن يَكْفُرْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ (19)

إِنَّ بیشکه ٱلدِّينَ دین عِندَ ٱللَّهِ د الله په وړاندې ٱلْإِسْلَٰمُۗ اسلام دی(الله
تعالی ته صرف د اسلام دین د قبول وړ دی، د آدم علیه سلام څخه تر
اوسه پورې آسماني دین صرف اسلام دی،ټول پیغمبران د اسلام په دین
کې تیر شوي دي،او محمد صلی الله علی وسلم د ټولي دنیا دپاره،تور دی
که سپین، د اسلام د دین آخرنی پیغمبر دی،او ټول انسانان که یهود دي که
نصاری که ملحد،که هندو دی او که اتش پرست ، ټول باید پرته د
اختلاف او انکار څخه په الله تعالی،قرآنکریم او محمد صلی الله علیه وسلم
باندې ایمان راوړي) وَمَا ٱخْتَلَفَ او اختلاف نه دی کړئ(د اسلام په دین
کې) ٱلَّذِينَ هغو خلکو أُوتُواْ چې ورکول شوئ دی هغوی ته ٱلْكِتَٰبَ
کتاب(یهود او نصاری،ځکه چې دوی په دې پوهیدل چې د اسلام د دین
آخرنی پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم دی) إِلَّا مګر مِنۢ بَعْدِ وروسته
مَا د دې(چې) جَآءَ راغئ هُمُ دوی ته ٱلْعِلْمُ علم(کله چې قرآنکریم

نازل شو،او محمد صلی الله علیه وسلم مبعوث شو،او دوی په دې خبره پوه شو چې دا هماغه پیغمبر دی چې مونږ ته ئې زمونږ په کتابونو کې خبر راکول شوئ دی) بَغۡيَۢا قصداً(د حسد او دنیاپرستی په سبب یې) بَيۡنَهُمۡۗ په خپلو منځونو کې( د اسلام د اخرني پیغمبر په باره کې اختلافات شروع کړل،څوک د اسلام په دین پاتې شول او په محمد صلی الله علیه وسلم او قرآنکریم باندې یې ایمان راوړو،او چا د نبي علیه سلام دمنلو او په قرآنکریم باندې د ایمان راوړلو څخه انکار وکړو،او د اسلام د دین څخه خارج او کافر شول) وَمَن او هر څوک(هغه که یهود وي که نصاری که ملحد که هندو په مجموع کې ټول انسانان) يَكۡفُرۡ (چې)هغه انکار کوي(کفر کوي) بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی په آیاتونو باندې(د قرآنکریم او نبي علیه سلام نه انکار کوي) فَإِنَّ نو بیشکه ٱللَّهَ الله تعالی سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ډېر زر حساب کوونکئ دی. (19)

فَإِنۡ حَآجُّوكَ فَقُلۡ أَسۡلَمۡتُ وَجۡهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ ٱتَّبَعَنِۗ وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسۡلَمۡتُمۡۚ فَإِنۡ أَسۡلَمُواْ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ (20)

فَإِنۡ نو که چیرته (کتابیان) حَآجُّوكَ ستا سره جګړه(او بحث)کوي فَقُلۡ نو (ای محمد صلی الله علیه وسلم) ورته ووایه أَسۡلَمۡتُ چې ما تسلیم کړئ دی وَجۡهِيَ خپل ځان لِلَّهِ الله تعالی ته وَمَنِ او څوک چې ٱتَّبَعَنِۗ ځما پیروي کوي(هغوی هم الله تعالی ته ځانونه تسلیم کړي دي) وَقُل او ووایه لِّلَّذِينَ هغو خلکو ته أُوتُواْ چې هغوی ته ورکول شوئ دی ٱلۡكِتَٰبَ کتاب(یهود او نصاری) وَٱلۡأُمِّيِّـۧنَ او امیانو ته(مشرکانو ته چې:) ءَأَسۡلَمۡتُمۡۚ آیا تاسو ایمان راوړئ؟ فَإِنۡ نو که چیرته أَسۡلَمُواْ هغوی ایمان راوړو فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ نو بیشکه چې دوی سمه لار یې پیداکړه وَّإِن او که چیرته تَوَلَّوۡاْ دوی وګرځیدل (د ایمان راوړلو څخه یې مخ

واړولو،او ایمان یې رانه وړو ) فَإِنَّمَا نو بیشکه عَلَيْكَ په تا باندې
ٱلْبَلَٰغُ تبلیغ(د حق رسول)دي وَٱللَّهُ او الله تعالی بَصِيرُۢ ښه لیدونکۍ
دی بِٱلْعِبَادِ د بندګانو. (20)

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَيَقْتُلُونَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَيَقْتُلُونَ ٱلَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِٱلْقِسْطِ مِنَ ٱلنَّاسِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ (21)

إِنَّ بیشکه ٱلَّذِينَ هغه خلک يَكْفُرُونَ چې کفر کوي بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ د الله
تعالی په آیاتونو باندې(د قرآنکریم نه انکار کوي) وَيَقْتُلُونَ او هغوی
وژني ٱلنَّبِيِّـۧنَ نبیان علیهم سلام بِغَيْرِ حَقٍّ په ناحقه سره وَيَقْتُلُونَ او
وژني ٱلَّذِينَ هغه خلک يَأْمُرُونَ چې حکم کوي بِٱلْقِسْطِ د انصاف په
کولو باندې مِنَ ٱلنَّاسِ د انسانانو څخه فَبَشِّرْ نو زیرئ ورکړه هُم
دوی ته بِعَذَابٍ په عذاب أَلِيمٍ دردونکي باندې. (21)

أُوْلَٰٓئِكَ دغه ٱلَّذِينَ هغه خلک دي حَبِطَتْ چې برباد شوي دي(ضایع
شوي دي) أَعْمَٰلُهُمْ عملونه د دوی فِي ٱلدُّنْيَا په دنیا کې وَٱلْأَخِرَةِ او
په آخرت کې وَمَا لَهُم او نشته دوی ته مِّن نَّٰصِرِينَ څوک د کومک
کونکو نه(چې عذاب ترې دفع کړي) (22)

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ (23)

أَلَمْ تَرَ آیا تا نه دي کتلي إِلَى ٱلَّذِينَ هغو خلکو ته أُوتُواْ چې هغوی ته
ورکول شوي د ه نَصِيبًا یوه برخه مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ د کتاب (د علم نه)
يُدْعَوْنَ (کله چې)هغوی بلل کیږي إِلَىٰ كِتَٰبِ ٱللَّهِ د الله تعالی کتاب ته

لِيَحۡكُمَ د دې دپاره چې فیصله وکړي بَيۡنَهُمۡ د هغوی په منځ کې ثُمَّ بیا
يَتَوَلَّىٰ مخ اړوي فَرِيقٞ یو ډله مِّنۡهُمۡ د هغوی نه وَهُم او
هغوی(همیشه د حقیقت نه) مُّعۡرِضُونَ مخ ګرځونکې دي (23)

ذَٰلِكَ دغه (د هغوی مخ اړول د حق نه) بِأَنَّهُمۡ په دې سبب دي قَالُواْ
چې: هغوی وايي لَن تَمَسَّنَا چې(هیڅکله)به مونږ ته ونه رسیږي
ٱلنَّارُ اور إِلَّآ مګر(که رسیږي هم،هغه به صرف) أَيَّامٗا یو څو
ورځې مَّعۡدُودَٰتٖۖ شمیرل شوي وي وَغَرَّهُمۡ او دوی غولولي دي(او
دوی دوکه کړي دی) فِي دِينِهِم په خپل دین کې مَّا هغو( خبرو) كَانُواْ
يَفۡتَرُونَ چې دوي به د خپل ځان څخه(په دین کې جوړولې) (24)

فَكَيۡفَ إِذَا جَمَعۡنَٰهُمۡ لِيَوۡمٖ لَّا رَيۡبَ فِيهِ وَوُفِّيَتۡ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا كَسَبَتۡ وَهُمۡ لَا يُظۡلَمُونَ (25)

فَكَيۡفَ نو څنګه حال به وي إِذَا کله چې جَمَعۡنَٰهُمۡ مونږ راجمع کړو
هغوی(د حساب دپاره) لِيَوۡمٖ هغه ورځ لَّا رَيۡبَ چې نشته شک فِيهِ
په هغې(ورځ کې) وَوُفِّيَتۡ او پوره-پوره به ورکول کیږي كُلُّ نَفۡسٖ
هر چاته مَّا (بدل)د هغه (عمل) كَسَبَتۡ چې هغه کړئ وي وَهُمۡ او
هغوی لَا يُظۡلَمُونَ هیڅ ظلم به پرې نه کیږي.(نه به د خپل حق څخه کم
ثواب ورکول کیږي،او نه به زیات عذاب ورکول کیږي) (25)

قُلِ ٱللَّهُمَّ مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ تُؤۡتِي ٱلۡمُلۡكَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ ٱلۡمُلۡكَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُۖ بِيَدِكَ ٱلۡخَيۡرُۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ (26)

قُلِ وواېه ٱللَّهُمَّ اى الله مَٰلِكَ ٱلۡمُلۡكِ د بادشاهۍ خاوند ئې تُؤۡتِي ته ورکوې ٱلۡمُلۡكَ بادشاهي مَن تَشَآءُ چا ته چې ته وغواړې وَتَنزِعُ او اخلې ٱلۡمُلۡكَ بادشاهي مِمَّن د هر چا نه تَشَآءُ (چې) ته وغواړې وَتُعِزُّ او عزت ورکوې مَن تَشَآءُ چا ته چې ته وغواړې وَتُذِلُّ او ذلت ورکوې مَن تَشَآءُۖ چا ته چې ته وغواړې بِيَدِكَ ستا په لاس کې ٱلۡخَيۡرُۖ خير دى إِنَّكَ بيشکه ته عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ په هر شي باندې قَدِيرٞ قادر ئې.(الله تعالى ته دا کار ډېر اسان دى چې څوک بادشاه کړې،څوک ګدا کړې،چا ته عزت ورکړې او چا ته ذلت.) (26)

تُولِجُ ٱلَّيۡلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَتُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيۡلِۖ وَتُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَتُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّۖ وَتَرۡزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ (27)

الله تعالى فرماېي!

تُولِجُ ته ننباسې ٱلَّيۡلَ شپه فِي ٱلنَّهَارِ په ورځ کې وَتُولِجُ او ته ننباسې ٱلنَّهَارَ ورځ فِي ٱلَّيۡلِۖ په شپه کې وَتُخۡرِجُ او ته راوباسې ٱلۡحَيَّ ژوندى مِنَ ٱلۡمَيِّتِ د مړي نه وَتُخۡرِجُ او ته راوباسې ٱلۡمَيِّتَ مړى مِنَ ٱلۡحَيِّۖ د ژوندي نه وَتَرۡزُقُ او ته روزي ورکوې مَن چا ته تَشَآءُ چې ته غواړې بِغَيۡرِ حِسَابٖ بې حسابه. (27)

۱-

ځمکه د لمر مخې ته د محور په خوا او شاه ګرځي،کومه برخه يې چې د لمر وړانګو او رڼا ته مخامخ شي نو د ځمکې په هغې برخه کې ورځ راځي،او کومه برخه يې چې د لمر د وړانګو او رڼا څخه پناه شي.هلته شپه راځي،نو کله چې د ځمکې تياره برخه د فضاء د تيارو څخه د لمر د رڼا خواته راتاو او د لمر وړانګو ته مخامخ شي،نو په کې ورځ راځي،او هغه برخه چې چې د لمر د وړانګو او رڼا څخه پناه کيږي،هلته شپه

راځي،یعنی د ځمکي هغه برخه چي هلته شپه ده کله چي د دوراني
حرکت پواسطه د فضاء د تيارو څخه راوځي او د لمر وړانګو او رڼا ته
ورننوځي،نو ورځ په کي راځي،او هغه برخه چي د لمر د رڼا څخه پناه
کيږي،او د فضاء تيارو ته ورننوځي، هلته شپه راځي،نو د ځمکي دا
دومره لويه کره يا سياره د لمر مخي ته الله تعالی ګرځوي او شپه او ورځ
جوړوي.

٢-

الله تعالی د مړو اتومونو او ماليکولونو څخه ژوندی نطفي يا ګاميټونه
جوړوي،او د نارينه او ښځينه ګاميټونو نه ژوندی هګۍ يا زايګوټ
جوړوي،او د زايګوټ څخه ژوندی موجود جوړوي.او ژونديِ موجود ته
مرګ ورکوي،او په مړو اتومونو او ماليکولونو يې تجزيه کوي.

لَّا يَتَّخِذِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلْمُؤْمِنِينَۖ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَلَيْسَ
مِنَ ٱللَّهِ فِي شَيْءٍ إِلَّآ أَن تَتَّقُواْ مِنْهُمْ تُقَىٰةًۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفْسَهُۥۗ وَإِلَى ٱللَّهِ ٱلْمَصِيرُ
(28)

لَّا يَتَّخِذِ نه دي نيسي ٱلْمُؤْمِنُونَ مؤمنان ٱلْكَٰفِرِينَ كافران أَوْلِيَآءَ
دوستان مِن دُونِ پرته د ٱلْمُؤْمِنِينَۖ مؤمنانو نه وَمَن او څوک يَفْعَلْ
چي هغه کوي ذَٰلِكَ داسي فَلَيْسَ نو هغه نه دی مِنَ ٱللَّهِ د الله تعالی(د
طرف نه) فِي شَيْءٍ په هيڅ شي کي إِلَّآ مګر(په هغه صورت کي )
أَن که تَتَّقُواْ تاسو ځان ساتئ مِنْهُمْ د هغوی(د ظلم)نه تُقَىٰةًۗ ځان
ساتل(چي ستاسو مقصد د هغو د ظلم نه ځان بچول وي،) وَيُحَذِّرُ او
ويروي كُمُ تاسو ٱللَّهُ الله تعالی نَفْسَهُۥۗ د خپل ذات نه وَإِلَى ٱللَّهِ او
(خاص) الله تعالی ته ٱلْمَصِيرُ ورتلل دي (28)

اولیاء-داسې قلبي دوستي ده چې یو د بل رازونه ساتي،یو د بل ملاتړ او د زړه د کومي یو د بل سره محبت لري،د داسې کولو اجازه د کافرانو او د الله تعالی د دښمنانو سره نشته،البته د کافرانو سره ښه رویه،ظاهراً ښه دارمدار،ښه اخلاق او په ښو اخلاقو سره خبرې او راشه درشه کول دا بیله خبره.

قُلۡ إِن تُخۡفُواْ مَا فِي صُدُورِكُمۡ أَوۡ تُبۡدُوهُ يَعۡلَمۡهُ ٱللَّهُۗ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ (29)

قُلۡ ته ووایه إِن که تُخۡفُواْ تاسو پټوئ مَا څه چې فِي صُدُورِكُمۡ ستاسو په زړونو کې دي أَوۡ یا تُبۡدُوهُ ښکاره کوئ هغه يَعۡلَمۡهُ پوهیږي په هغې ٱللَّهُۗ الله تعالی وَيَعۡلَمُ او هغه جل جلاله پوهیږي مَا څه چې فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ په آسمانونو کې دي وَ او مَا څه چې فِي ٱلۡأَرۡضِۗ په ځمکه کې دي وَٱللَّهُ او الله تعالی عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ په هر شي باندې قَدِيرٞ قادر دی. (29)

انسان خو د انسانانو ځخه خبره پټولای شي،مګر د الله تعالی ځخه یو کار هم نشي پټولای ځکه چې الله تعالی د بنده په نیت او اراده هم پوهیږي،بنده باید په دنیا کې د همدې عقیدې سره ژوند وکړي چې هر وخت الله تعالی ته ښکاري،د زړه پټې خبرې او ښکاره کارونه یې پخپله د دوی ځخه الله تعالی ته ښه ښکاري ،نو بنده که غلا کوي که زنا،که دروغ وایې که ظلم کوي،که د چا سره په کوم نیت دوستي کوي، داسې فکر دې نه کوي چې څوک مې نه ګوري او ځما په کارونو باندې نه پوهیږي بلکه هر کار چې کوي د دې عقیدې سره دې یې کوي چې:الله تعالی راته ګوري او زه دا ښه یا بد کار کوم.

يَوۡمَ تَجِدُ كُلُّ نَفۡسٖ مَّا عَمِلَتۡ مِنۡ خَيۡرٖ مُّحۡضَرٗا وَمَا عَمِلَتۡ مِن سُوٓءٖ تَوَدُّ لَوۡ
أَنَّ بَيۡنَهَا وَبَيۡنَهُۥٓ أَمَدَۢا بَعِيدٗاۗ وَيُحَذِّرُكُمُ ٱللَّهُ نَفۡسَهُۥۗ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ (30)

يَوۡمَ (د قيامت په)ورځ به تَجِدُ ومومي كُلُّ هر نَفۡسٖ څوک مَّا
څه چې عَمِلَتۡ هغه کړي وي(په دنيا کې) مِنۡ خَيۡرٖ د نيکۍ څخه
مُّحۡضَرٗا موجود(په خپل مخکې) وَمَا او څه چې عَمِلَتۡ هغه کړي
وي مِن سُوٓءٖ د بدۍ څخه تَوَدُّ هغه به هيله کوي لَوۡ کاشکي أَنَّ
چې بَيۡنَهَا په منځ د هغې(بدی) وَبَيۡنَهُۥٓ او په منځ د هغه کې أَمَدَۢا
فاصله وای بَعِيدٗاۗ لرې وَيُحَذِّرُ او ويروي كُمُ تاسو ٱللَّهُ الله تعالی
نَفۡسَهُۥۗ د خپل ځان نه وَٱللَّهُ او الله تعالی رَءُوفُۢ مهربان دی بِٱلۡعِبَادِ
په بندګانو باندې. (30)

قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ (31)

قُلۡ ووايه(ای محمد صل الله عليه وسلم دوی ته) إِن كه كُنتُمۡ ياستئ
تاسو تُحِبُّونَ چې محبت کوئ ٱللَّهَ د الله تعالی سره فَٱتَّبِعُونِي نو
تابعداري وکړئ ځما(د قرآنکريم او سنتو په منلو سره) يُحۡبِبۡكُمُ محبت
به وکړي ستاسو سره ٱللَّهُ الله تعالی وَيَغۡفِرۡ او ببنښه به وکړي لَكُمۡ
تاسو ته ذُنُوبَكُمۡۚ ستاسو د ګناهونو وَٱللَّهُ او الله تعالی غَفُورٞ ببنونکئ
رَّحِيمٞ (او) مهربان دی. (31)

قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ (32)

قُلۡ  وواىه(اى محمد صلى الله عليه وسلم دوى ته)  أَطِيعُواْ  اطاعت كوئ
ٱللَّهَ  د الله تعالى  وَٱلرَّسُولَۖ  او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم  فَإِن  نو كه
تَوَلَّوۡاْ  دوى وگرځيدل (د الله تعالى او د محمد رسول الله صلى الله عليه
وسلم د اطاعت څخه يې انكار وكړو) فَإِنَّ نو بيشكه  ٱللَّهَ  الله تعالى  لَا
يُحِبُّ  نه خوښوي  ٱلۡكَٰفِرِينَ  كافران (32) ۞

إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰٓ ءَادَمَ وَنُوحٗا وَءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ وَءَالَ عِمۡرَٰنَ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ(33)

إِنَّ  بيشكه  ٱللَّهَ  الله تعالى  ٱصۡطَفَىٰٓ  غوره كړي دي  ءَادَمَ  آدم ع وَنُوحٗا
او نوح ع  وَءَالَ  او اولاد  إِبۡرَٰهِيمَ  د ابراهيم ع  وَءَالَ  او اولاد
عِمۡرَٰنَ  د عمران عليهم السلام  عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ په مخلوقاتو باندې. (33)

ذُرِّيَّةَۢ بَعۡضُهَا مِنۢ بَعۡضٖۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (34)

ذُرِّيَّةَۢ  اولادونه وو  بَعۡضُهَا  ځنې د دوى  مِنۢ بَعۡضٖۗ  د ځنو  وَٱللَّهُ  او الله
تعالى  سَمِيعٌ  اوريدونكئ  عَلِيمٌ  (او)پوهيدونكئ دى. (34)

نوح عليه سلام د آدم عليه سلام د اولادې څخه وو،ابراهيم عليه سلام د
نوح عليه سلام د اولادې څخه وو،بنې اسماعيل او بنې اسرآئيل د ابراهيم
عليه سلام د اولادې څخه وو،عسى عليه سلام د مريم عليها سلام ځوى او
مريم عليها سلام د عمران عليه سلام لور او د ابراهيم عليه سلام په اولاد
كې وو.او ټول يو انساني نسل وو يعنى ټول انسانان وو.نو څوک چې
وايې او دا عقيده لري چې مريم عليها السلام او عيسى عليه السلام خدايان
وو،دا غلطه ده ځكه چې دوى خو زيږيدلي وو،او څوک چې زيږيدلئ وي
هغه خداى نه شي كيدلاى.

إِذۡ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ عِمۡرَٰنَ رَبِّ إِنِّي نَذَرۡتُ لَكَ مَا فِي بَطۡنِي مُحَرَّرٗا فَتَقَبَّلۡ مِنِّيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ (35)

إِذۡ کله چې قَالَتِ وویلې ٱمۡرَأَتُ ښځې عِمۡرَٰنَ د عمران علیه سلام رَبِّ ای ځما ربه! إِنِّي بیشکه ما نَذَرۡتُ نذر کړئ دی لَكَ تا ته مَا څه شی فِي بَطۡنِي چې ځما په ګیډه کې دی مُحَرَّرٗا آزاد(د دنیا د نورو ټولو کارونو څخه به آزاد وي، صرف د دین او بیت المقدس خدمت به کوي) فَتَقَبَّلۡ نو قبول کړه مِنِّيٓۖ ځما نه(دا نذر) إِنَّكَ بیشکه ته أَنتَ همدا ته ٱلسَّمِيعُ ښه اوریدونکئ ٱلۡعَلِيمُ (او) ښه عالم ئې. (35)

محررا ـــد نیا د کارونو څخه به ازاد وي صرف د دین او د بیت المقدس خدمت به کوي،او د(محررا)صیغه یې مذکر ځکه راوړي ده چې:د دې خواهیش او هیله وه چې نارینه ماشوم ئې پیدا شي.

فَلَمَّا وَضَعَتۡهَا قَالَتۡ رَبِّ إِنِّي وَضَعۡتُهَآ أُنثَىٰ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا وَضَعَتۡ وَلَيۡسَ ٱلذَّكَرُ كَٱلۡأُنثَىٰۖ وَإِنِّي سَمَّيۡتُهَا مَرۡيَمَ وَإِنِّيٓ أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ (36)

فَلَمَّا نو کله چې: وَضَعَتۡهَا هغې وزیږوله هغه قَالَتۡ وئې ویل رَبِّ ای ځما ربه إِنِّي بیشکه ما وَضَعۡتُهَآ وزیږوله أُنثَىٰ جینۍ

وَٱللَّهُ او الله تعالی أَعۡلَمُ ښه پوه دی بِمَا په هغې شي وَضَعَتۡ چې هغې زیږولای وو، وَلَيۡسَ او نه دی ٱلذَّكَرُ نارینه(هغه چې دې د بیت المقدس د خدمت دپاره غوښتئ وو) كَٱلۡأُنثَىٰۖ په شان د جینۍ(هغه چې دې ته ورکول شوه،ځکه چې دا جینۍ ډیره مبارکه او د عیسی علیه السلام مور وه)

وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا او بیشکه ما نوم کیښود د دې(جینۍ) مَرْيَمَ مریم علیها السلام وَإِنِّيَ او بیشکه زه أُعِيذُهَا پناه غواړم دې ته بِكَ په تا سره وَذُرِّيَّتَهَا او د دې اولادو ته مِنَ د ٱلشَّيْطَٰنِ شیطان ٱلرَّجِيمِ رټل شوي څخه. (36)

فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّاۖ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيۡهَا زَكَرِيَّا ٱلۡمِحۡرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزۡقٗاۖ قَالَ يَٰمَرۡيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَاۖ قَالَتۡ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٍ (37)

فَتَقَبَّلَهَا نو قبوله کړه هغه(مریم رضی الله تعالی عنها) رَبُّهَا رب د هغې بِقَبُولٍ په قبلولو حَسَنٍ ښو سره،(رسم او رواج داسې وو چې د بیت المقدس د خدمت کولو دپاره به یواځې نارینه ماشومان قبلیدل،ځکه د مریم رضی الله عنها مور د نارینه اولاد خواهیش لرلو، مګر د مریم رضی الله عنها په باره کې د هغې وخت د رواج خلاف الله تعالی د ټولو مجاورینو په زړه کې واچوله چې:دا جینۍ دې د بیت المقدس په خادمانو کې شامیله شي،

وَأَنۢبَتَهَا او هغه جل جلاله هغه(مریم رضی الله عنها) لویه کړه نَبَاتًا حَسَنًا په لویولو ښو سره .

وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّاۖ او ذکریا علیه السلام ئې د هغې پالونکئ کړو(تر څو چې د ذکریا علیه السلام د علم او دیانت څخه فایده واخلي،ذکریا علیه السلام د مریم رضی الله عنها په تربیت کې ډېر زیات کوشش کولو،کله چې مریم رضی الله عنها پیغله شوه نو د مسجد سره نیزدې ورته یوه ځان ته حجره مخصوصه شوه چې د ورځې به ئې هلته عبادت کولو او د شپې به د خپلې ترور یعنی د ذکریا علیه السلام کره تله.

كُلَّمَا هر كله به چې دَخَلَ ننوتلو عَلَيۡهَا هغې(رضی الله عنها) ته زَكَرِيَّا زكرياعليه السلام ٱلۡمِحۡرَابَ عبادت خانې ته وَجَدَ هغه(عليه السلام) به موندلو عِندَهَا د هغې(رضی الله عنها) سره رِزۡقٗاۖ یو څه رزق(د مريمې رضی الله عنها سره به بې موسمه ميوې پيداكيدلې،د ژمي تازه ميوې به په اوړي كې او د اوړي تازه ميوې به په ژمي كې ورسره پرتې وې،چې د هغوی د بيا-بيا كتلو نه د ذكريا عليه السلام طاقت ونه شو او په تعجب ئې د مريم رضی الله تعالی عنها څخه داسې پوښتنه وكړه: ) قَالَ (ذكريا عليه السلام )وويل يَٰمَرۡيَمُ ای مريم (رضی الله عنها) أَنَّىٰ د كومه(راځې) لَكِ تا ته هَٰذَاۖ دا (رزق) قَالَتۡ (مريم رضی الله عنها) وويل هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ دا د الله تعالی د طرف نه إِنَّ ٱللَّهَ بيشكه الله تعالی يَرۡزُقُ روزي وركوي مَن يَشَآءُ چا ته چې اراده وفرمائې بِغَيۡرِ حِسَابٍ بې حسابه (37)

هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُۥۖ قَالَ رَبِّ هَبۡ لِي مِن لَّدُنكَ ذُرِّيَّةٗ طَيِّبَةًۖ إِنَّكَ سَمِيعُ ٱلدُّعَآءِ (38)

زكريا عليه السلام او ښځه يې دواړه بوډاګان وو،نارينه اولاد يې نه وو،د مريم رضی الله عنها سره د بې موسمه ميوو او رزق په ليدلو زكريا عليه السلام دې ته متوجه شو چه: الله تعالی بې موسمه ميوې او رزق وركولای شي،نو ما ته هم په بوډاوالي كې د اولاد ميوه راكولای شي،او د اولاد دپاره ئې دعا وكړه،د دې مطلب دا نه دی،چې مخكې ئې يقين نه وو او اوس ئې يقين پيدا شو،بلكه توجه ئې نه وه اوس ئې توجه پيدا شوه

هُنَالِكَ په دغه ځای كې دَعَا دعا وكړه زَكَرِيَّا زكريا عليه السلام رَبَّهُۥۖ د خپل رب نه قَالَ و ئې وويل رَبِّ ای ځما ربه هَبۡ راكړه

لِي ما ته مِن لَّدُنكَ د ستا د طرف نه ذُرِّيَّةً اولاد طَيِّبَةً پاک إِنَّكَ بيشکه ته سَمِيعُ اوريدونکئ ٱلدُّعَآءِ د دعاء ئي. (38)

فَنَادَتۡهُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٞ يُصَلِّي فِي ٱلۡمِحۡرَابِ أَنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحۡيَىٰ مُصَدِّقَۢا بِكَلِمَةٖ مِّنَ ٱللَّهِ وَسَيِّدٗا وَحَصُورٗا وَنَبِيّٗا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ (39)

فَنَادَتۡهُ نو اواز وکړو هغه ته(زکريا عليه السلام ته) ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ملائکو وَ په داسې حال کې چې: هُوَ هغه قَآئِمٞ ولاړ وو يُصَلِّي لمونځ ئي کولو فِي ٱلۡمِحۡرَابِ په عبادت خانه کې (نو ملائکو ورته وويل!) أَنَّ ٱللَّهَ چې بيشکه الله تعالى يُبَشِّرُكَ تا ته زيرى درکوي بِيَحۡيَىٰ په يحيى عليه السلام باندې مُصَدِّقَۢا چې تصديقونکئ به وي بِكَلِمَةٖ د يوې کليمې مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالى(د يوې کليمې څخه مراد عيسى عليه السلام دى،يحيى عليه السلام به لا د پخوا څخه خلکو ته خبر ورکولو چې مسيح عليه السلام پيداکيدونکئ دى) وَسَيِّدٗا او سردار به وي(د خپل قوم په علم،حلم او تقوا سره) وَحَصُورٗا او ډېر منع کوونکئ به وي (د خپل نفس د شهواتو نه) وَنَبِيّٗا او پيغمبر به وي مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ د صالحانو نه. (39)

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَٰمٞ وَقَدۡ بَلَغَنِيَ ٱلۡكِبَرُ وَٱمۡرَأَتِي عَاقِرٞۖ قَالَ كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ (40)

قَالَ ( زکريا عليه السلام) ووېل رَبِّ اى څما ربه أَنَّىٰ څنګه يَكُونُ به کيږي لِي ما لره (څما ) غُلَٰمٞ څوى وَ په داسې حال کې چې: قَدۡ بيشکه بَلَغَنِيَ ما ته رارسيدلئ دى ٱلۡكِبَرُ بوډاوالى(بوډا شوئ يم) وَٱمۡرَأَتِي او ښځه مې عَاقِرٞۖ شنډه ده(د زکريا عليه السلام مقصد اعتراض نه دى بلکه د ځان پوهول ئې مطلب دى،چې آيا په کومه طريقه

به الله تعالى ماته ځوی راکړي،آيا زه او ښځه به مې ځوانان شو،که زه به بل واده کوم،او که هم داسي به يو.) قَالَ (جبرائيل عليه السلام وويل) وويل كَذَٰلِكَ هم داسي ٱللَّهُ الله تعالى يَفۡعَلُ كوي مَا څه چې يَشَآءُ هغه (جل جلاله) غواړي(هغه كه د عادت مخالف وي او كه د عادت موافق وي،الله تعالى د اسبابو محتاج نه دی بلکې اسباب الله تعالى ته محتاج دي) (40)

قَالَ رَبِّ ٱجۡعَل لِّيٓ ءَايَةٗۖ قَالَ ءَايَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ ٱلنَّاسَ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ إِلَّا رَمۡزٗاۗ وَٱذۡكُر رَّبَّكَ كَثِيرٗا وَسَبِّحۡ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِبۡكَٰرِ (41)

قَالَ (زكريا عليه السلام) وويل رَبِّ ای ځما ربه ٱجۡعَل مقرر كړه(وټاکه ) لِّيٓ ما ته ءَايَةٗۖ يوه نښه(يوه علامه) قَالَ هغه (جل جلاله) وفرمايل ءَايَتُكَ ستا نښه (دا ده) أَلَّا تُكَلِّمَ چې ته به خبرې نشي كولای ٱلنَّاسَ د خلكو سره ثَلَٰثَةَ درې أَيَّامٍ ورځې إِلَّا مګر رَمۡزٗاۗ په آشاره (به ئې کولای شي) وَٱذۡكُر او يادوه رَّبَّكَ رب خپل كَثِيرٗا ډير وَسَبِّحۡ او تسبيح وايه بِٱلۡعَشِيِّ ماښام وَٱلۡإِبۡكَٰرِ او سحر(يعنی هر وخت) (41)

وَإِذۡ قَالَتِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرۡيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ وَٱصۡطَفَىٰكِ عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلۡعَٰلَمِينَ (42)

وَإِذۡ او کله چې قَالَتِ وويل ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ملائكو!(مريم رضی الله عنها ته چې:) يَٰمَرۡيَمُ ای مريم(رضی الله عنها) إِنَّ بيشکه ٱللَّهَ الله تعالى ٱصۡطَفَىٰكِ غوره كړې يې ته وَطَهَّرَكِ او هغه جل جلاله پاكه كړې

یې ته وَٱصۡطَفَىٰكِ او هغه جل جلاله غوره کړې یې ته عَلَىٰ په نِسَآءِ
ښځو ٱلۡعَٰلَمِينَ د عالمونو باندې. (42)

يَٰمَرۡيَمُ ٱقۡنُتِي لِرَبِّكِ وَٱسۡجُدِي وَٱرۡكَعِي مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ (43)

يَٰمَرۡيَمُ ای مریم(رضی الله عنها) ٱقۡنُتِي ته فرمان برداري کوه لِرَبِّكِ
خپل رب ته وَٱسۡجُدِي او ته سجده کوه وَٱرۡكَعِي او ته رکوع کوه
مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ د رکوع کونکو سره(په جماعت سره لمونځ کوه)(43)

ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهِ إِلَيۡكَۚ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ يُلۡقُونَ أَقۡلَٰمَهُمۡ أَيُّهُمۡ يَكۡفُلُ مَرۡيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيۡهِمۡ إِذۡ يَخۡتَصِمُونَ (44)

ذَٰلِكَ دا(د زکریا،مریم او یحیی علیهم السلام قصې) مِنۡ أَنۢبَآءِ د خبرونو
ٱلۡغَيۡبِ د غیبو نه دي نُوحِيهِ چې مونږ ئې وحې کوو(چې مونږ ئې په
وحې سره درلیږو) إِلَيۡكَۚ تا ته وَمَا كُنتَ او نه وې ته لَدَيۡهِمۡ د هغوی
سره إِذۡ کله چې يُلۡقُونَ هغوی غورزول (د بیت المقدس مجاورانو)
أَقۡلَٰمَهُمۡ خپل قلمونه(د قرعه کشۍ دپاره) أَيُّهُمۡ چې کوم یو به د هغوی نه
يَكۡفُلُ سرپرستي کوي مَرۡيَمَ د مریم(رضی الله عنها) وَمَا كُنتَ او ته
نه وې لَدَيۡهِمۡ د هغوی سره إِذۡ هغه وخت کله چې يَخۡتَصِمُونَ
هغوی سره جګړې کولې (44)

کله چې مریم رضی الله عنها د نذر په حیث د بیت المقدس د خدمت دپاره قبوله شوه نو د بیت المقدس مجاورانو هر یو د ثواب په نیت غوښتل چې د دې سرپرتي او پالنه وکړي،تر څو چې خبره جنګ او جدل ته ووته،بلاخره فیصله په دې وشوه چې قرعه کشي دې وشي(پچه دې واچول شي)،او د قرعه کشۍ دپاره دې هغه قلمونه استعمال شي په کومو

چې تورات ليکل شوئ دی،خو قرعه کشي چې وشوه يا پچه چې واچول شوه،پچه يا قرعه کشي د زکريا عليه السلام په نوم راووتله،او زکريا عليه السلام ئې سرپرست شو او د مريم (رضی الله عنه) پالنه ئې شروع کړه.

إِذۡ قَالَتِ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرۡيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٖ مِّنۡهُ ٱسۡمُهُ ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ وَجِيهٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ (45)

إِذۡ (ياد کړه هغه وخت) کله چې قَالَتِ وويلي ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ ملائيکو يَٰمَرۡيَمُ اى مريم(رضی الله عنها) إِنَّ ٱللَّهَ بيشکه الله تعالى يُبَشِّرُكِ تا ته زيری درکوي بِكَلِمَةٖ په يوې کليمې سره مِّنۡهُ د هغه جل جلاله د طرف څخه ٱسۡمُهُ چې نوم ئې ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى مسيح عيسى ٱبۡنُ ځوی مَرۡيَمَ د مريم(رضی الله عنها) دی وَجِيهٗا د مرتبې خاوند دی فِي ٱلدُّنۡيَا په دنيا کې وَٱلۡأٓخِرَةِ او په آخرت کې وَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ او (د الله تعالى)د مقربانو څخه دی(او الله تعالى ته په نيزدې خلکو کې کې شامیل دی (45)

وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ وَكَهۡلٗا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ (46)

وَيُكَلِّمُ او هغه (عليه السلام) به خبرې کوي ٱلنَّاسَ د خلکو سره فِي ٱلۡمَهۡدِ په ځانګو کې(يا د مور په غيږ کې يا په ماشومتوب کې) وَكَهۡلٗا او په کهولت کې( په پوره عمر کې) وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ او د نيکانو څخه به وي. (46)

قَالَتۡ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي وَلَدٞ وَلَمۡ يَمۡسَسۡنِي بَشَرٞۖ قَالَ كَذَٰلِكِ ٱللَّهُ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُۚ إِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرٗا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ (47)

قَالَتۡ (مریم رضی الله عنها) وویلي رَبِّ ای څما ربه أَنَّىٰ يَكُونُ
څنګه به وشي لِي ما لره(څما) وَلَدٞ څوی وَ په داسې حال کې لَمۡ
يَمۡسَسۡنِي چې زه نه یم مسه کړې( لاس نه دی راوړی) بَشَرٞۖ هيڅ بني
آدم(هيڅ نارينه) قَالَ (جبرآئيل عليه السلام)وويلي كَذَٰلِكِ همدا شان
ٱللَّهُ الله تعالى يَخۡلُقُ پيدا کوي مَا څه چې يَشَآءُۚ هغه جل جلاله
غواړي إِذَا هر کله چې قَضَىٰٓ هغه جل جلاله فيصله وکړي أَمۡرٗا د
يو کار د کولو فَإِنَّمَا نو بيشکه چې يَقُولُ هغه جل جلاله وايې لَهُۥ
هغه(کار) ته كُن (چې) وشه فَيَكُونُ نو هغه(کار)کيږي. (47)

وَيُعَلِّمُهُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ (48)

وَيُعَلِّمُهُ او هغه(جل جلاله)ورزده کوي هغه (عليه السلام)ته ٱلۡكِتَٰبَ
كتاب وَٱلۡحِكۡمَةَ او حکمت وَٱلتَّوۡرَىٰةَ او تورات وَٱلۡإِنجِيلَ او انجيل
(48)

وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَنِّي قَدۡ جِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ أَنِّيٓ أَخۡلُقُ لَكُم مِّنَ
ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ وَأُبۡرِئُ ٱلۡأَكۡمَهَ وَٱلۡأَبۡرَصَ
وَأُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأۡكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمۡۚ إِنَّ فِي
ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ (49)

وَرَسُولًا او (ګرځوي به ئي الله تعالى خپل) رسول إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ
بني اسرائيلو ته(عيسى عليه السلام به هغوی ته وايې) أَنِّي بيشکه چې
زه قَدۡ يقيناً جِئۡتُكُم راغلئ يم تاسو ته بِـَٔايَةٖ د معجزې سره مِّن
رَّبِّكُمۡ ستاسو د رب د خوا نه أَنِّيٓ بيشکه چې زه أَخۡلُقُ زه جوړوم

لَكُم تاسو ته مِّنَ ٱلطِّينِ د ختو نه كَهَيۡـَٔةِ په شان د شکل ٱلطَّيۡرِ د مرغه فَأَنفُخُ بيا زه پوكئ كوم فِيهِ په هغې كې فَيَكُونُ نو هغه(د ختو شكل) به كيږي طَيۡرَۢا يو(ژوندى) مرغه بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ د الله تعالى په حكم سره وَأُبۡرِئُ او زه شفا وركوم ٱلۡأَكۡمَهَ موررزادي ړوند ته وَٱلۡأَبۡرَصَ او د پيس مرض ته(د پوستكي برګى مرض) وَأُحۡيِ او زه ژوندي كوم ٱلۡمَوۡتَىٰ مړي بِإِذۡنِ په حكم ٱللَّهِۖ د الله تعالى سره وَأُنَبِّئُكُم او زه خبر دركوم تاسو ته بِمَا په هغه څه سره تَأۡكُلُونَ چې تاسو يې خورئ وَمَا او هغه څه چې تَدَّخِرُونَ تاسو يې ذخيره كوئ فِي بُيُوتِكُمۡۚ په خپلو كورونو كې إِنَّ بيشكه فِي ذَٰلِكَ په دې (معجزو)كې لَأٓيَةٗ خامخا دليل دى(ځما د نبوت په تصديق باندې) لَّكُمۡ تاسو ته إِن كه كُنتُم ياستئ تاسو مُّؤۡمِنِينَ مؤمينان. (49)

مسيح عليه السلام به بني اسرائيلو ته وايي:

وَمُصَدِّقٗا او تصديق كوونكئ يم لِّمَا د هغه څه بَيۡنَ يَدَيَّ چې ځما نه مخكې وو مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ د تورات وَلِأُحِلَّ او د دې دپاره(راغلئ يم)چې حلال كړم لَكُم تاسو ته بَعۡضَ ځينې ٱلَّذِي د هغو شيانو حُرِّمَ چې حرام شوي دي عَلَيۡكُمۡۚ په تاسو باندې وَجِئۡتُكُم او زه راغلئ يم تاسو ته بِـَٔايَةٖ د معجزې سره مِّن رَّبِّكُمۡ ستاسو د رب د طرف نه فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ نو د الله تعالى نه وويريږئ وَأَطِيعُونِ او ځما اطاعت وكړئ (50)

إِنَّ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُوهُۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ (51) ۞

إِنَّ ٱللَّهَ بيشكه الله تعالى رَبِّي ځما هم رب دى وَرَبُّكُمۡ او ستاسو هم رب دى فَٱعۡبُدُوهُۚ نو د هغه جل جلاله بندګي كوئ هَٰذَا دا صِرَٰطٞ لار مُّسۡتَقِيمٞ مستقيمه(سمه)ده (51) ۞

فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنۡهُمُ ٱلۡكُفۡرَ قَالَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ (52)

فَلَمَّآ نو كله چې أَحَسَّ درک کړو عِيسَىٰ عیسی علیه السلام مِنۡهُمُ دهغوی ٱلۡكُفۡرَ کفر(انکار) قَالَ هغه (علیه السلام ) وویلي مَنۡ څوک دي أَنصَارِيٓ څما مرستندوی إِلَى ٱللَّهِۖ د الله تعالی په لار کې قَالَ وویلي ٱلۡحَوَارِيُّونَ حواریونو(د عیسی علیه السلام پاکو او مخلصو ملګرو نَحۡنُ مونږ یو أَنصَارُ ٱللَّهِ د الله تعالی(د دین) مرسته کوونکي ءَامَنَّا مونږ ایمان راوړۍ دی بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَٱشۡهَدۡ او (ای عیسی علیه السلامه) ته شاهد شه بِأَنَّا په دې باندې چې مونږ مُسۡلِمُونَ مسلمانان یو (52)

رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلۡتَ وَٱتَّبَعۡنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ (53)

رَبَّنَآ ای زمونږ ربه ءَامَنَّا مونږ ایمان راوړۍ دی بِمَآ په هغه څه أَنزَلۡتَ چې تا نازل کړي دي وَٱتَّبَعۡنَا او مونږ پیروي کړي ده ٱلرَّسُولَ د پیغمبر علیه السلام فَٱكۡتُبۡنَا نو ته ولیکه مونږ مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ د شاهدې ویونکو سره. (53)

وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ (54)

په دې سبب چې د عیسی علیه السلام تبلیغ او دعوت د یهودي علماوو په ګټه نه وو،نو اکثره یهودي علماوو يې د دنيا د فايدې د لاس ته راوړلو دپاره مخالفت وکړو،نو د هغه علیه السلام د منځه وړلو دپاره يې داسې توطیه او تدبير جوړ کړو چې: عیسی علیه السلام نعوذبالله بې دينه او مرتد شوئ دی او غواړي چې تورات او د موسی علیه السلام دين ختم کړي ،او دا خبره يې د وخت پاچا ته هم ورسوله چې بلآخره پاچا يې د مرګ او وژلو حکم ورکړو:

وَمَكَرُواْ او هغوی(د یهودو علماوو د عیسی علیه السلام د وژلو) تدبير وکړو وَمَكَرَ ٱللَّهُ او الله تعالی(د عیسی علیه السلام د وژلو څخه د بچ کولو) تدبير وکړو وَٱللَّهُ او الله تعالی خَيْرُ بهتر دی ٱلْمَٰكِرِينَ د ټولو تدبير کونکو نه (54)

- إِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَجَاعِلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوكَ فَوْقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٥٥﴾

إِذْ ياد که هغه وخت کله چې قَالَ وفرمايل ٱللَّهُ الله تعالی يَٰعِيسَىٰٓ ای عیسی(علیه السلام) إِنِّي بیشکه زه مُتَوَفِّيكَ ستا (د روح او مادي جسم) پوره اخستونکئ يم وَرَافِعُكَ او ستا(د روح او مادي جسم) پورته کوونکئ يم إِلَيَّ ځما لورې ته وَمُطَهِّرُكَ او ستا پاکوونکئ يم مِنَ ٱلَّذِينَ د هغو خلکو نه كَفَرُواْ چې هغوی کافران شوي دي وَجَاعِلُ او ګرځونکئ يم ٱتَّبَعُوكَ د هغوی چې ستا پيروي يې کړې ده فَوْقَ ٱلَّذِينَ د هغو خلکو دپاسه كَفَرُوٓاْ چې هغوی کافران شوي دي إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ د

قيامت د ورځې پورې ثُمَّ إِلَيَّ بيا ما ته مَرۡجِعُكُمۡ ستاسو(ټولو بيرته) راتلل دي فَأَحۡكُمُ نو فيصله به وکړم بَيۡنَكُمۡ ستاسو تر منځ فِيمَا په هغه څه کې كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ چې تاسو په هغې کې اختلاف کولو. ﴿٥٥﴾

فَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَأُعَذِّبُهُمۡ عَذَابٗا شَدِيدٗا فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٥٦﴾

- فَأَمَّا ٱلَّذِينَ نو هغه خلک چې هغوی كَفَرُواْ کافران شوي دي فَأُعَذِّبُهُمۡ نو زه به هغوی ته عذاب ورکړم عَذَابٗا شَدِيدٗا ډېر سخت عذاب فِي ٱلدُّنۡيَا په دنيا کې وَٱلۡأٓخِرَةِ او په آخرت کې وَمَا لَهُم او هغوی ته نشته مِّن نَّٰصِرِينَ د کومک کونکو نه(څوک چې د الله تعالى د عذاب نه يې خلاص کړي) ﴿٥٦﴾

- وَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَيُوَفِّيهِمۡ أُجُورَهُمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٧﴾

- وَأَمَّا ٱلَّذِينَ او هغه خلک چې هغوی ءَامَنُواْ ايمان راوړئ دی وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او هغوی نيک عملونه کړي دي فَيُوَفِّيهِمۡ نو هغوی ته به پوره-پوره ورکول کيږي أُجُورَهُمۡۗ ثواب د هغوی وَٱللَّهُ او الله تعالى لَا يُحِبُّ نه خوښوي ٱلظَّٰلِمِينَ ظالمان ﴿٥٧﴾

- ذَٰلِكَ نَتۡلُوهُ عَلَيۡكَ مِنَ ٱلۡأٓيَٰتِ وَٱلذِّكۡرِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٥٨﴾

ذَٰلِكَ دا (چې بیان شو) نَتۡلُوهُ مونږ یې لولو عَلَيۡكَ په تا .
باندې مِنَ ٱلۡأٓيَٰتِ د آیاتونو وَٱلذِّكۡرِ ٱلۡحَكِيمِ او د حکمت نه د
ډک نصیحت څخه. ﴿٥٨﴾

.

إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ ٱللَّهِ كَمَثَلِ ءَادَمَۖ خَلَقَهُۥ مِن تُرَابٖ ثُمَّ قَالَ لَهُۥ كُن .
فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾

إِنَّ بیشکه مَثَلَ مثال عِيسَىٰ د عیسی (علیه السلام) عِندَ .
ٱللَّهِ د الله تعالی په نیزد كَمَثَلِ په شان د مثال ءَادَمَۖ د آدم
(علیه السلام) دی خَلَقَهُۥ هغه (جل جلاله) هغه(آدم علیه
السلام) جوړ کړو مِن تُرَابٖ د خاورو څخه ثُمَّ بیا قَالَ
هغه(جل جلاله) وفرمایل لَهُۥ هغه ته كُن (انسان) شه
فَيَكُونُ نو (انسان) شو ﴿٥٩﴾

ٱلۡحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُن مِّنَ ٱلۡمُمۡتَرِينَ ﴿٦٠﴾ .
ٱلۡحَقُّ دا چې بیان شو د عیسی (علیه السلام په باره کې همدا)
حقیقت دی مِن رَّبِّكَ ستا د رب د طرف څخه(چې عیسی علیه
السلام د الله تعالی بنده او پیغمبر دی او نه دی پخپله او نه یې مور
مریم علیهما السلام د الله تعالی سره په خدایۍ کې شریکان دي
ځکه چې عیسی علیه السلام د مریم علیها السلام ځوی او مریم
علیه السلام د عمران علیه السلام لور ده یعنې دواړه علیهما السلام

د انسانانو په سلسله کي پيدا شوي دي .اول دا چي دواړه عليهما السلام انسانان دي.دوهم دا چي:پيداشوي دي نو انسان او هرشی چي هغه پخپله پيدا شوی وی،پخپله مخلوق وي،مور او پلار لري ،غذا خوري،مرګ پرې راځي هغه هيڅکله الله نشي کيدلای فَلَا تَكُن نو ته مه کيږه مِّنَ ٱلْمُمْتَرِينَ د شک کوونکو څخه(ځکه چي د الله تعالى تعريف داسي دی چي:اول- الله تعالى يو دی،مګر د عيسى عليه السلام او مريم عليها السلام په شان بي حسابه انسانان نور هم موجود وو.دوهم-الله تعالى هيڅ چاته محتاج نه دی مګر ټول کائنات الله تعالى ته محتاج دي،مګر عيسى عليه السلام او مريم عليها السلام په دنياوي معاملاتو او ژوند کي د نورو انسانانو کومک ته ضرورت لرلو،ډودی ،جامو ،اوبو او هر شي ته ئي لکه د نورو انسانانو غوندي ضرورت لرلو.دريم—لم يلد ولم يولد -نه ئي څوک زيږولئ او نه د چا نه زيږيدلئ (يعنى نه د الله اولاد يا لور او ځوی شته او نه د چا اولا د دی)،مګر مونږ ګورو چي مريم عليها السلام د عمران عليه السلام اولاد وو او عيسى عليه السلام ئي زيږولئ وو.او عيسى عليه السلام د مريم عليها السلام نه زيږيدلای وو.څلورم—او هيڅوک د الله تعالى سيال او برابر نه دی(په کائناتو کي يو شی هم دالله تعالى پشان نه دی).مګر د مريم عليها السلام او عيسى عليه السلام غوندي نورو انسانانو هم دوه سترګي،دوه غوږونه دوه لاسونه ،دوه پښي و غيره درلودل او په ډيرو دنياوي معالاتو کي يي ورسره مشابهت لرلو.نو د الله تعالى تعريف په عيسى عليه السلام او مريم عليها السلام باندي نه

تطبيقيږي.فلهذا دوی دواړه عليهما السلام د الله تعالى بنده ګان او عيسى عليه السلام صرف د الله تعالى پيغمبر او بنده دی ﴿٦٠﴾

فَمَنۡ حَآجَّكَ فِيهِ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡعِلۡمِ فَقُلۡ تَعَالَوۡاْ نَدۡعُ أَبۡنَآءَنَا وَأَبۡنَآءَكُمۡ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمۡ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمۡ ثُمَّ نَبۡتَهِلۡ فَنَجۡعَل لَّعۡنَتَ ٱللَّهِ عَلَى ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٦١﴾

فَمَنۡ نو څوک چې حَآجَّكَ ستا سره جګړه کوي فِيهِ په دې(باره)کې مِنۢ بَعۡدِ مَا پس د هغې جَآءَكَ چې راغئ تا ته مِنَ ٱلۡعِلۡمِ د (صحيح او يقيني) علم څخه (د عيسى عليه السلام او د مريم عليها السلام په باره کې) فَقُلۡ نو ته ووايه( هغوی ته چې:) تَعَالَوۡاْ راځئ نَدۡعُ چې راوغواړو أَبۡنَآءَنَا زمونږ ځامن وَأَبۡنَآءَكُمۡ او ستاسو ځامن وَنِسَآءَنَا او زمونږ ښځې وَنِسَآءَكُمۡ او ستاسو ښځې وَأَنفُسَنَا او زمونږ ځانونه(او مونږ پخپله) وَأَنفُسَكُمۡ او ستاسو ځانونه(او تاسو پخپله) ثُمَّ نَبۡتَهِلۡ بيا به عاجزي وکړو(الله تعالى ته ) فَنَجۡعَل او وبه وايو لَّعۡنَتَ ٱللَّهِ لعنت د الله تعالى عَلَى ٱلۡكَٰذِبِينَ په دروغجنو باندې. ﴿٦١﴾

دې ته د مباهلې(ښيرو) آيت وايي،څوک چې د حق څخه انکار کوي او په دليلونو نه قانع کيږي نو بيا د هغوی سره مباهله کيږي.د نجران د نصاراؤ(کريسشنو) يو څه خلک نبي صلى الله عليه وسلم ته راغلل،او د نبي عليه السلام سره يې د عيسى عليه السلام په باره مناظره وکړه،هغوی عيسى عليه السلام د الله تعالى ځوی ګڼلو،نبي کريم صلى الله عليه وسلم ورته په دلايلو ثابته کړه چې عيسى عليه السلام د الله تعالى بنده او پيغمبر دی،خو کله چې هغوی په باطل او غلطه باندې د حد څخه زيات کلک

شول نو الله تعالی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د هغوی سره د مباهلي کولو حکم وفرمایلو.خو هغوی مباهیله ونکړه او جزیه یې قبوله کړه،ځکه چې دوی د انجیل او تورات څخه پوهیدل چې مونږ په ناحقه یو.

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡقَصَصُ ٱلۡحَقُّۚ وَمَا مِنۡ إِلَٰهٍ إِلَّا ٱللَّهُۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿٦٢﴾

إِنَّ هَٰذَا بیشکه دا (بیان د عیسی علیه السلام او مریم علیه السلام په باره کې) لَهُوَ یقیناً دا ٱلۡقَصَصُ بیان ٱلۡحَقُّ حقیقت دی وَمَا او نشته مِنۡ إِلَٰهٍ د عبادت لایق إِلَّا مګر ٱللَّهُ الله تعالی دی وَإِنَّ ٱللَّهَ او بیشکه الله تعالی لَهُوَ یقیناً هغه جل جلاله ٱلۡعَزِيزُ غالب ٱلۡحَكِيمُ (او) حکیم دی.﴿٦٢﴾

فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٦٣﴾

فَإِن نو که چیرته تَوَلَّوۡاْ دوی مخ اړوي( د دې حقیقت څخه د عیسی علیه السلام او مریم علیها السلام په باره کې او بیا هم عیسی علیه السلام خدای او د خدای ځوی ګڼي) فَإِنَّ ٱللَّهَ نو بشکه الله تعالی عَلِيمُۢ پوه دی بِٱلۡمُفۡسِدِينَ په مفسیدینو باندې.(نو چې نه دلایل مني او نه مباهله کوي،او نه د خپلو عقایدو په صداقت باندې باور لري، بیا خو د دوی مقصد حق ته رسیدل نه دي،یلکې یوازې فتنه او فساد خورول یې مقصد او هدف دی.نو ټول فساد کوونکې د الله تعالی د نظر لاندې دي او جزا به ورکړي.) ﴿٦٣﴾

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ﴿٦٤﴾

قُلۡ (ای محمد صلی الله علیه وسلم ورته) ووایه يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ ای اهل کتابو (ای یهودیانو او نصرانیانو) تَعَالَوۡاْ تاسو راشئ إِلَىٰ كَلِمَةٖ یوي خبرې ته سَوَآءِۭ چې یو شان ده بَيۡنَنَا زموږ تر منځ وَبَيۡنَكُمۡ او ستاسو تر منځ أَلَّا نَعۡبُدَ چې عبادت به نه کوو إِلَّا مګر ٱللَّهَ صرف د الله تعالی(عبادت به کوو) وَلَا نُشۡرِكَ او شریک به نه جوړوو بِهِۦ د هغه جل جلاله سره شَيۡـٔٗا هیڅ شی(په کائناتو کې به یو شی هم د الله تعالی سره شریک نه جوړوو). وَلَا يَتَّخِذَ او نه به نیسي بَعۡضُنَا ځینې(خلک) زموږ بَعۡضًا ځینې (نور خلک) أَرۡبَابٗا معبودان مِّن دُونِ پرته د ٱللَّهِۚ الله تعالی نه(په کائناتو کې به بندګي او عبادت صرف او یوازې د الله تعالی کیږي) فَإِن نو که چیرته تَوَلَّوۡاْ هغوی وګرزیدل(ستا د خبرې نه یې مخ واړوو ا ستا خبره یې ونه منله) فَقُولُواْ نو ورته ووایی ٱشۡهَدُواْ (چې) تاسو شاهدان اوسئ بِأَنَّا (چې) بیشکه موږ مُسۡلِمُونَ مسلمانان یو. ﴿٦٤﴾

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوۡرَىٰةُ وَٱلۡإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٦٥﴾

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ ای اهل کتابو لِمَ ولي تُحَآجُّونَ تاسو جګړې کوئ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ د ابراهیم علیه السلام په باره کې(چې یهودي وو که نصراني وو؟) وَ حال دا چې مَآ أُنزِلَتِ نه دی نازل شوئ ٱلتَّوۡرَىٰةُ تورات وَٱلۡإِنجِيلُ او انجیل إِلَّا مګر مِنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ وروسته د هغه علیه السلام(څخه نازل شوي دي.نو د ابراهیم علیه السلام په وخت کې خو یهودیان او نصرانیان موجود نه وو،نو بیا ابراهیم علیه السلام څنګه یهودي یا نصراني کیدلای شي.) أَفَلَا تَعۡقِلُونَ نو آیا تاسو عقل نه استعمالوئ؟.(آیا ستاسو عقلونه دا مني چې ابراهیم علیه السلام دې یهودي یا نصراني وي؟) ﴿٦٥﴾

هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ حَٰجَجۡتُمۡ فِيمَا لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ فَلِمَ تُحَآجُّونَ فِيمَا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞۚ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٦٦﴾

هَٰٓأَنتُمۡ هَٰٓؤُلَآءِ واورئ،خبردار شئ،تاسو هغه کسان یاستئ حَٰجَجۡتُمۡ چې تاسو جګړې وکړې فِيمَا په هغه څه کې لَكُم بِهِۦ چې تاسو ته وو په هغې باندې عِلۡمٞ یوڅه علم (او پوهه ستاسو د کتابونو څخه،چې د نبي علیه السلام صفتونه او پیشګویۍ دي،مګر سره د پوهي تاسو نبي علیه السلام ونه منلو) فَلِمَ نو ولې تُحَآجُّونَ جګړې کوئ فِيمَا په باره د هغې څه کې لَيۡسَ چې نشته لَكُم بِهِۦ تاسو ته په هغې باندې عِلۡمٞ هیڅ علم (یعنی د محمد صلی الله علیه وسلم په باره کې چې تاسو ته د تورات او انجیل نه هم ښه معلومه وه چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی رسول دی،نو هغه صلی الله علیه وسلم مو ونه منلو او انکار مو ترې وکړو،او د ابراهیم علیه السلام په باره کې چې علم او صحیح معلومات هم نه لرئ، په هغه علیه السلام دعوه کوئ،نو معلومه خبره ده چې تاسو حق او حقیقت نه غواړئ بلکې په څمکه کې فتنه او فساد جوړوئ او خوروئ) وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ او الله تعالی پوهیږي وَأَنتُمۡ او تاسو لَا تَعۡلَمُونَ نه پوهیږئ ﴿٦٦﴾

مَا كَانَ إِبۡرَٰهِيمُ يَهُودِيّٗا وَلَا نَصۡرَانِيّٗا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفٗا مُّسۡلِمٗا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴿٦٧﴾

مَا كَانَ نه وو إِبۡرَٰهِيمُ ابراهیم علیه السلام يَهُودِيّٗا یهودي وَلَا او نه (وو) نَصۡرَانِيّٗا نصراني(کریسشن) وَلَٰكِن او لیکن كَانَ هغه علیه السلام وو حَنِيفٗا حنیف(په حق دین) مُّسۡلِمٗا مسلمان(حکم منونکئ د الله تعالی) وَمَا كَانَ او نه وو هغه علیه السلام مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ د مشرکانو څخه ﴿٦٧﴾

إِنَّ أَوۡلَى ٱلنَّاسِ بِإِبۡرَٰهِيمَ لَلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا ٱلنَّبِيُّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۗ وَٱللَّهُ وَلِيُّ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٦٨﴾

إِنَّ بیشکه أَوۡلَى ٱلنَّاسِ نیزدي د خلکو څخه بِإِبۡرَٰهِيمَ د ابراهیم علیه السلام سره لَلَّذِينَ یقیناً هغه خلک دي ٱتَّبَعُوهُ چې د هغه علیه السلام پیروي یې کړي ده وَهَٰذَا ٱلنَّبِيُّ او دا نبي(محمد صلی الله علیه وسلم) دی وَٱلَّذِينَ او هغه خلک دي ءَامَنُواْۗ چې ایمان یې راوړئ دی وَٱللَّهُ او الله تعالی وَلِيُّ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ د مؤمنانو دوست دی. ﴿٦٨﴾

وَدَّت طَّآئِفَةٞ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ لَوۡ يُضِلُّونَكُمۡ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمۡ وَمَا يَشۡعُرُونَ ﴿٦٩﴾

وَدَّت ارزو لري طَّآئِفَةٞ یوه ډله مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ د اهل کتابو لَوۡ کاشکې که يُضِلُّونَكُمۡ هغوی ګمراه کړي تاسو وَ او (په حقیقت کې) مَا يُضِلُّونَ هغوی نه ګمراه کوي إِلَّآ مګر أَنفُسَهُمۡ خپل ځانونه(ګمراه کوي) وَمَا يَشۡعُرُونَ او دوی نه پوهیږي. ﴿٦٩﴾

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمۡ تَشۡهَدُونَ ﴿٧٠﴾

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ ای اهل کتابو لِمَ ولې تَكۡفُرُونَ تاسو کفر کوئ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ د الله تعالی په آیاتونو باندې(چې د نبي علیه سلام او قرآنکریم څخه انکار کوئ) وَ حال دا چې: أَنتُمۡ تَشۡهَدُونَ تاسو شاهدان یاستی (د محمد ضلی الله علیه وسلم په رسالت او د قرآنکریم په حقانیت،ځکه چې په تورات او انجیل کې تاسو ته د نبي علیه السلام او قرآنکریم زیري درکول شوي دي،او تاسو ترې خبر یاستی،او پخپلو پټو مجلسونو کې پخپلو منځونو کې د نبی علیه السلام په نبوت او د قرآنکریم په صداقت اقرار

کوئ خو ظاهراً او په ښکاره بیا مخالفت کوئ او په قرآنکریم او نبي علیه السلام باندې ایمان نه راوړئ.) ﴿۷۰﴾

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَلۡبِسُونَ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ﴿۷۱﴾

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ ای اهل کتابو لِمَ ولې تَلۡبِسُونَ ګډوئ تاسو ٱلۡحَقَّ حق بِٱلۡبَٰطِلِ د باطل سره؟ (خپلې دروغ خبرې د آسماني کتابونو د ربښتیا خبرو سره؟) وَتَكۡتُمُونَ او(ولې) پټوئ ٱلۡحَقَّ حق(د نبي علیه السلام صفتونه او زیری په تورات کې ولې پټوئ؟) وَ حال دا چې أَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ تاسو پوهیږئ(چې خپل دروغ او د تورات ربښتیا سره ګډوی او د نبي علیه السلام صفتونه او زیری په انجیل او تورات کې پټوی) ﴿۷۱﴾

اهل کتابو د مسلمانانو د ګمراه کولو دپاره داسې دسیسه جوړه کړه چې خپلو خلکو ته یې وظیفه ورکړه چې:تاسو به مسلمانانو ته ورځئ،د سحر په وخت کې یا د ورځې په اول کې به ایمان راوړئ،توله ورځ به لمونځونه کوئ او د ورځې په آخر کې به بیرته کافران کیږئ،او مسلمانانو ته به وایئ چې دا هغه پیغمبر نه دی د کوم صفتونه چې په تورات کې دي،تر څو چې د مسلمانانو په زړونو کې شک پیدا شي او د اسلام دین پریږدي،نو د دوی دا دسیسه الله تعالی رسوا کړه او صحابه کرام پرې خبر شو،او دسیسه ئې شنډه شوه. باید ووایو چې کتابیان همیشه کوشش کوي چې قسم-قسم دسیسې د مسلمانانو د ګمراه کولو دپاره جوړې کړي.

وَقَالَت طَّآئِفَةٞ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ ءَامِنُواْ بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَجۡهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكۡفُرُوٓاْ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴿۷۲﴾

وَقَالَت او وویل طَّآئِفَةٞ یوې ډلې مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ د اهل کتابو (خپلو خلکو ته چې مسلمانانو ته ورشئ او) ءَامِنُواْ ایمان راوړئ بِٱلَّذِيٓ په هغه(قرآنکریم)باندې أُنزِلَ چې نازل شوئ دی عَلَى ٱلَّذِينَ په هغو خلکو باندې ءَامَنُواْ چې مؤمنان دي. وَجۡهَ ٱلنَّهَارِ د ورځې په اول کې وَٱكۡفُرُوٓاْ او (بیرته)کافران کیږئ ءَاخِرَهُۥ د ورځې په آخر کې(یعنی ای کتابیانو د ورځې په اول کې ایمان راوړئ او د ورځې په آخیر کې بیرته کافران کیږئ لَعَلَّهُمۡ د دې دپاره چې هغوی(یعنی مؤمنان هم لکه کتابیان د ایمان څخه ) يَرۡجِعُونَ وګرځي(کفر ته). ﴿٧٢﴾

وَلَا تُؤۡمِنُوٓاْ إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمۡ قُلۡ إِنَّ ٱلۡهُدَىٰ هُدَى ٱللَّهِ أَن يُؤۡتَىٰٓ أَحَدٞ مِّثۡلَ مَآ أُوتِيتُمۡ أَوۡ يُحَآجُّوكُمۡ عِندَ رَبِّكُمۡۗ قُلۡ إِنَّ ٱلۡفَضۡلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ ﴿٧٣﴾

لکه چې ذکر شو چې کتابیانو(یهودیانو او نصرانیانو) خپلو خلکو ته وویلي چې:مسلمانانو ته ورشئ، د ورځې په اول کې به ایمان راوړئ او د ورځې په آخر کې به بیرته کافرکیږئ،خو دا ویره ورته هم پیدا شوه چې هسې نه چې د نبي علیه السلام په لیدلو سره ئې سینه اسلام ته خلاصه شي او په ربنتیا د زړه نه مسلمانان شي،نو د دې خطر د مخنیوي دپاره یې هغوی ته وویلي چې:ګورئ!

وَلَا تُؤۡمِنُوٓاْ او تاسو ایمان مه راوړئ(په هیڅ چا) إِلَّا لِمَن پرته د هغه چا څخه تَبِعَ دِينَكُمۡ چې ستاسو د دین پیروي کوي(ځکه چې پیغمبري د بني اسرائیلو میراث دی او دهدایت دین ستاسو دی.) قُلۡ (ای محمد صلی الله علیه وسلم دوی ته)ووایه إِنَّ ٱلۡهُدَىٰ بیشکه (صحیح) هدایت (صحیح دین) هُدَى ٱللَّهِ د الله تعالی هدایت دی(د الله تعالی دین دی) أَن يُؤۡتَىٰٓ چې ورکول کیږي أَحَدٞ یو چاته مِّثۡلَ په شان مَآ د هغه(هدایت،دین،نبوت) أُوتِيتُمۡ چې(پخوا) تاسو ته درکول شوئ وو أَوۡ

يُحَآجُّوكُمۡ تر څو چې هغوی بحث وکړي ستاسو سره عِندَ رَبِّكُمۡۗ ستاسو د رب په وړاندې قُلۡ (ورته) ووایه إِنَّ بشکه ٱلۡفَضۡلَ فضلیت(نبوت،هدایت) بِيَدِ ٱللَّهِ د الله تعالی په لاس کې دی يُؤۡتِيهِ هغه(جل جلاله)ورکوي هغه(نبوت،هدایت) مَن يَشَآءُۗ چا ته چې هغه(جل جلاله)غواړي وَٱللَّهُ او الله تعالی وَٰسِعٌ د پراخه فضل خاوند دی(یوازې ستاسو پورې محدود نه دی) عَلِيمٌ پوه دی(د فضل ورکولو مستحق خلک پیژني) ﴿٧٣﴾

يَخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِهِۦ مَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٧٤﴾

يَخۡتَصُّ هغه(جل جلاله) انتخابوي بِرَحۡمَتِهِۦ په خپل رحمت سره (د نبوت او خپل دین دپاره) مَن يَشَآءُۗ هغه څوک چې هغه (جل جلاله) ئې غواړي. وَٱللَّهُ او الله تعالی ذُو ٱلۡفَضۡلِ ٱلۡعَظِيمِ د لوی فضل خاوند دی. ﴿٧٤﴾

وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مَنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِقِنطَارٖ يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ وَمِنۡهُم مَّنۡ إِن تَأۡمَنۡهُ بِدِينَارٖ لَّا يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيۡكَ إِلَّا مَا دُمۡتَ عَلَيۡهِ قَآئِمٗاۗ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَالُواْ لَيۡسَ عَلَيۡنَا فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ سَبِيلٞ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿٧٥﴾

وَمِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ او ځیني خلک د اهل کتابو څخه(یهود او نصاری) مَنۡ هغه څوک دي إِن که چیرته تَأۡمَنۡهُ ته هغه ته ورکړې بِقِنطَارٖ ډېر مال(د ډېر مال باور پرې وکړې) يُؤَدِّهِۦٓ هغه بیرته درکوي هغه(مال) إِلَيۡكَ تا ته وَمِنۡهُم او ځیني خلک د دوی څخه مَّنۡ هغه څوک دي إِن که چیرته تَأۡمَنۡهُ ته ورکړې هغه ته بِدِينَارٖ یو دینار (د یو دینار باور پرې وکړې) لَّا يُؤَدِّهِۦٓ هغه بیرته نه درکوي هغه(دینار) إِلَيۡكَ تا ته إِلَّا مَا دُمۡتَ عَلَيۡهِ قَآئِمٗاۗ پرته د دې څخه چې همیشه ورته (په سر باندې) ولاړ ئې (او خپل مال ترې غواړې) ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ دا(کار) په دې

سبب کوي چې دوی قَالُواْ ویلي لَيۡسَ نشته عَلَيۡنَا په مونږ باندې فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ د غیري یهودي یا غیري اسرائیلي خلکو د مال په خوړلوکې سَبِيلٞ ګناه(یعنی د امیانو یا نور عرب چې اسرائیل نه دي یا هرڅوک چې اسرائیل نه دي دوی وایې چې د هغو مال خوړل مونږ ته رواه دی)
وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ او دوی په الله تعالی باندې دروغ وایې(یعنی دا خبره الله تعالی ته منسوبوي چې الله تعالی دا په تورات کې فرمایلي دي)
وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ حال دا چې دوی پوهیږي (په دې چې الله تعالی په تورات کې کې داسي نه دې فرمایلي چې یهودیانو ته د غیري یهودي خلکو د مالونو په خوړلو کې ګناه نشته او ورته رواه دي بلکې دا د دوی د علماوو خپلې جوړې شوي خبرې دي.) ﴿٧٥﴾

بَلَىٰۚ مَنۡ أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ وَٱتَّقَىٰ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٧٦﴾

بَلَىٰۚ ولې نه! مَنۡ هر څوک چې: أَوۡفَىٰ هغه وفا وکړي بِعَهۡدِهِۦ په خپله وعده باندې(چې ایمان په نبي او د امانتونو ورکول دي) وَٱتَّقَىٰ او پرهیزګاري وکړي(چې د کفر او خیانت څخه ځان وساتي) فَإِنَّ ٱللَّهَ نو بیشکه الله تعالی يُحِبُّ دوست ګڼي ٱلۡمُتَّقِينَ پرهیزګاران. ﴿٧٦﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَشۡتَرُونَ بِعَهۡدِ ٱللَّهِ وَأَيۡمَٰنِهِمۡ ثَمَنٗا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ لَا خَلَٰقَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ وَلَا يَنظُرُ إِلَيۡهِمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٧٧﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ بیشکه هغه خلک يَشۡتَرُونَ چې هغوی اخلي بِعَهۡدِ ٱللَّهِ د الله تعالی (سره د کړي) وعدې وَأَيۡمَٰنِهِمۡ او د خپلو قسمونو (په بدل کې) ثَمَنٗا قیمت قَلِيلًا لږ أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک لَا خَلَٰقَ نشته دی هیڅ برخه لَهُمۡ دوی ته فِي ٱلۡأٓخِرَةِ په آخرت کې وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ او الله تعالی به د

دوی سره خبر نه کوي وَلَا يَنظُرُ او نه به هغه جل جلاله ګوري إِلَيۡهِمۡ
دوی ته يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ د قیامت په ورځ وَلَا يُزَكِّيهِمۡ او نه به هغه جل
جلاله دوی پاک کړي وَلَهُمۡ او دوی ته عَذَابٌ أَلِيمٞ درد ناک عذاب
دی. ﴿٧٧﴾

وَإِنَّ مِنۡهُمۡ لَفَرِيقٗا يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم بِٱلۡكِتَٰبِ لِتَحۡسَبُوهُ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ
ٱلۡكِتَٰبِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ وَمَا هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ وَيَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ
وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿٧٨﴾

وَإِنَّ او بیشکه مِنۡهُمۡ د هغوی ځیني لَفَرِيقٗا یقیناً یوه ډله (داسي) ده
يَلۡوُۥنَ أَلۡسِنَتَهُم چي خپلي ژبي اړوي را اړوي بِٱلۡكِتَٰبِ (د الله تعالی)په
کتاب باندي لِتَحۡسَبُوهُ د دي دپاره چي تاسو ګمان وکړئ چي
هغه(خبرې چي دوی یې وایې ) مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ (د الله تعالی) د کتاب نه دي
وَ حال دا چي مَا هُوَ نه دي هغه(خبرې) مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ (د الله تعالی) د
کتاب وَيَقُولُونَ او دوی وایې چي: هُوَ هغه(چي دوی یې وایې)
مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ د الله تعالی د لوري دي وَ حال دا چي مَا هُوَ هغه نه
دي مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ د الله تعالی د لوري نه وَيَقُولُونَ او دوی وایې عَلَى
ٱللَّهِ په الله تعالی باندي ٱلۡكَذِبَ درواغ وَ حال دا چي هُمۡ يَعۡلَمُونَ
هغوی پو هیږي(چي په الله تعالی باندي دروغ وایې او خپلي خبرې الله
تعالی ته منسوبوي). ﴿٧٨﴾

مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤۡتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحُكۡمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُواْ عِبَادٗا
لِّي مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن كُونُواْ رَبَّٰنِيِّـۧنَ بِمَا كُنتُمۡ تُعَلِّمُونَ ٱلۡكِتَٰبَ وَبِمَا كُنتُمۡ
تَدۡرُسُونَ ﴿٧٩﴾

د نجران ځخه د کتابیانو د راغلي جرګې د یهودو او نصاراوو علماوو د نبي علیه السلام ځخه پوښتنه وکړه چې: آیا ته غواړې چې: لکه د نصاراوو په شان چې د عیسی علیه السلام عبادت کوي،مونږ دې هم ستا عبادت وکړو؟نو د دوی په جواب کې دا مبارک آیت نازل شو.

مَا كَانَ نه دی مناسب(نه دی جایز) لِبَشَرٍ یو انسان ته أَن يُؤْتِيَهُ ٱللَّهُ چې الله تعالی هغه ته ورکړي ٱلْكِتَٰبَ کتاب وَٱلْحُكْمَ او حکمت وَٱلنُّبُوَّةَ او پیغمبري ثُمَّ بیا يَقُولَ هغه وایې لِلنَّاسِ خلکو ته كُونُواْ چې شئ عِبَادًا بندګان(عبادت کوونکي) لِّي ما ته مِن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالی ځخه(یعنی نه محمد صلی الله علیه وسلم داسې خبره کوي،او نه عیسی علیه السلام او نه یو نبي داسې خبره کړې ده چې:ځما عبادت وکړئ) وَلَٰكِن او لیکن(محمد صلی الله علیه وسلم هم خلک د یو الله تعالی عبادت ته رابلي،او عیسی علیه السلام هم خلکو ته ویلي چې) كُونُواْ تاسو شئ رَبَّٰنِيِّـۧنَ الله والا(الهي خلک،په یهودیانو کې به چې چا دیني کارونه کول او خلکو ته به یې شرعي احکام وربښودل هغوی ته به د «رباني»لفظ استعمالیدلو) بِمَا په دې سبب كُنتُمْ چې تاسو(داسې خلک) وئ تُعَلِّمُونَ چې تاسو به ورزده کولو (خلکو ته) ٱلْكِتَٰبَ کتاب (د الله تعالی تورات) وَبِمَا او په دې سبب كُنتُمْ چې تاسو(داسې خلک) وئ تَدْرُسُونَ چې تاسو زده کولو(د الله کتاب تورات یعنی هم مو د تورات تلاوت کولو او پخپله مو هم زده کولو او هم مو نورو خلکو ته وربښودلو) ﴿٧٩﴾

یعنی عیسی علیه السلام خو خلکو ته د توحید دعوت ورکولو،او خلکو ته یې ویل چې رباني جوړ شئ یعنی هم په خپله د پخوا په شان شرعي احکام زده کوئ او هم یې نورو خلکو ته ورزده کوئ.او هیڅکله او هیڅ چاته یې دا خبره نه ده کړې چې ځما بندګي وکړه او ما ته خدای ووایه.

وَلَا يَأۡمُرَكُمۡ أَن تَتَّخِذُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ أَرۡبَابًاۗ أَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡكُفۡرِ بَعۡدَ إِذۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿٨٠﴾

وَلَا يَأۡمُرَكُمۡ او نه امر كوي تاسو ته (نبي) أَن تَتَّخِذُواْ چې تاسو ونيسئ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ فرشتي وَٱلنَّبِيِّـۧنَ او نبيان أَرۡبَابًاۗ خدايان(نه عيسى عليه السلام خلكو ته امر كړئ وو چې ما او جبرائيل عليه السلام په خدايۍ ونيسئ او نه محمد صلى الله على وسلم خلكو ته امر كوي چې ما په خدايۍ ونيسئ او ځما عبادت وكړئ) أَيَأۡمُرُكُم (دا عقل مني ؟چې:) آيا هغه(نبي) به تاسو ته حكم كوي بِٱلۡكُفۡرِ په كفر باندې بَعۡدَ إِذۡ أَنتُم وروسته د دې چې تاسو يئ مُّسۡلِمُونَ مسلمانان.(دا څنګه كيداى شې او څنګه يې عقل منلاى شي چې د الله تعالى پيغمبر دې د ډېرو كوششونو او تكليفونو په واسطه تاسو توحد ته رابللي ياستئ نو اوس چې كلک موحدين مسلمانان ياستئ،نو اوس دې بيرته شرک او كفر ته دعوت دركړي او په كولو يې دې درته حكم وكړي، آيا دا عقل مني؟ ﴿٨٠﴾

وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيۡتُكُم مِّن كِتَٰبٖ وَحِكۡمَةٖ ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مُّصَدِّقٞ لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥۚ قَالَ ءَأَقۡرَرۡتُمۡ وَأَخَذۡتُمۡ عَلَىٰ ذَٰلِكُمۡ إِصۡرِيۖ قَالُوٓاْ أَقۡرَرۡنَاۚ قَالَ فَٱشۡهَدُواْ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨١﴾

وَإِذۡ او كله چې أَخَذَ واخسته ٱللَّهُ الله تعالى مِيثَٰقَ وعده ٱلنَّبِيِّـۧنَ د پيغمبرانو څخه لَمَآ بې شكه هغه څه ءَاتَيۡتُكُم چې زه دركړم تاسو ته مِّن كِتَٰبٖ د كتاب وَحِكۡمَةٖ او حكمت څخه ثُمَّ بيا جَآءَكُمۡ راشي تاسو ته رَسُولٞ يو رسول مُّصَدِّقٞ تصديق كوونكئ لِّمَا د هغه (كتاب او حكمت) مَعَكُمۡ چې ستاسو سره دي لَتُؤۡمِنُنَّ تاسو حتماً ايمان

راوړئ بِهِۦ په هغه باندي وَلَتَنصُرُنَّهُۥۚ او خامخا تاسو د هغه سره کومک وکړئ قَالَ هغه(جل جلاله) وفرمايل ءَ آيا أَقۡرَرۡتُمۡ تاسو اقرار وکړو وَأَخَذۡتُمۡ او(آيا) تاسو قبوله کړه عَلَىٰ ذَٰلِكُمۡ په دې باندې(چې په هغه نبي باندې چې ستاسو نه وروسته راشي او ستاسو د کتابونو تصدق وکړي،په هغه باندې به ايمان راوړئ او کومک به ورسره کوئ) إِصۡرِيۖ وعده ځما قَالُوٓاْ هغوی وويل(پيغمبرانو وويل) أَقۡرَرۡنَاۚ مونږ اقرار وکړو(چې ايمان به هم پرې راوړو او کومک به هم ورسره کوو) قَالَ هغه(جل جلاله) وفرمايل فَٱشۡهَدُواْ نو تاسو شهدان اوسئ وَأَنَا۠ مَعَكُم او زه ستاسو سره يم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ د شاهدانو ځني. ﴿٨١﴾

دلته په واضح ډول دې حقيقت ته اشاره ده چې الله تعالى د موسى عليه السلام او عيسى عليه السلام ځخه وعده اخستې ده چې په محمد صلى الله عليه وسلم به ايمان راوړئ او کومک به ورسره کوئ،او موسى عليه السلام او عيسى عليه السلام د خپلو امتيانو(يعنى يهود او نصاراوو) نه په تورات او انجيل کې دا وعده اخستې ده چې:په محمد صلى الله عليه وسلم به خامخا ايمان راوړئ او حتماً به کومک ورسره کوئ،نو د تورات،انجيل او قرآنکيم د تعليماتو په اساس بايد يهود او نصاريَ په قرآنکريم او محد صلى الله عليه وسلم باندې ايمان راوړي او د اسلام د دين سره کومک وکړي.

فَمَن تَوَلَّىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿٨٢﴾

فَمَن نو ځوک تَوَلَّىٰ چې بيرته وګرځيدو(د تورات او انجيل د احکامو ځخه انکار وکړي) بَعۡدَ ذَٰلِكَ وروسته د دې ځخه(چې په تورات او انجيل کې د محمد صلى الله عليه وسلم صفات او زيري او په هغه صلى الله عليه وسلم باندې د ايمان راوړلو او ورسره د کومک کولو احکام ورته

معلوم شي ) فَأُوْلَٰٓئِكَ نو دغه خلک (يهود او نصارى) هُمُ همدوى ٱلۡفَٰسِقُونَ فاسقان دي. ﴿٨٢﴾

أَفَغَيۡرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبۡغُونَ وَلَهُۥٓ أَسۡلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُونَ ﴿٨٣﴾

أَفَغَيۡرَ نو آيا پرته دِينِ ٱللَّهِ د الله تعالى د دين څخه يَبۡغُونَ هغوى(بل دين) غواړي(ځکه چې د الله تعالى دين خو صرف اسلام دى،او د اسلام د دين ورستنى پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم او وروستنى کتاب قرآنکريم دى،نو د قرآنکريم او محمد صلى الله عليه وسلم نه انکار کول د الله د دين نه انکار کول دي ) وَ حال دا چې لَهُۥٓ هغه جل جلاله ته أَسۡلَمَ غاړه ايښې ده مَن هغه څه چې فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ په آسمانو کې دي وَٱلۡأَرۡضِ او په ځمکه کې دي طَوۡعٗا په خوښه وَكَرۡهٗا او ناخوښه (په کائناتو کې هر شى د الله تعالى دحکم تابع دى،د الله تعالى د فرمان او هدايت مطابق کار کوي،د لويو-لويو کهکشانونو څخه نيولې تول ستوري،لمر،ځمکه،سپوږمى،جمادات،نباتات،ملائيکې،حيوانات حتى واړه زرات، اليکټرونونه ،کوارک او د دې نور واړه شيان دا ټول هريو« مسلم» دى د ټولو دين اسلام دى،هر شى د الله تعالى د حکم او فيصلې مطابق پيداکيږي،کار کوي او د خپل معلوم وخت د تيرولو څخه وروسته د الله تعالى د حکم مطابق فناه کيږي يا مړ کيږي،ليکن يو زره هم د الله تعالى نافرماني نشي کولاى،د الله تعالى د حکم مطابق لمر لحظه په لحظه په معلومه اندازه انرجي جوړوي دا د لمر په اختيار کې نه ده چې په خپله خوښه د انرجي جوړول کم يا زيات کړي،په فضاء کې لمر او ځمکه د الله تعالى د حکم او هدايت مطابق په خاصو-خاصو فاصلو کې يو د بل څخه قرار لري،دا د لمر او ځمکې په اختيار کې نشته چې د الله تعالى د فرمان خلاف د منځ فاصله زياته يا کمه کړي،ځمکه په يو خاص سرعت سره د

الله تعالی د حکم او هدایت په اساس د شپې او ورځې د جوړولو دپاره د خپل محور په خوا او شاه ګرځې خو دا د ځمکې په اختیار کې نه ده چې په خپله خوښه یا سرعت زیات کړي او یا ئې کم کړي یعنی په کائناتو کې هر شی که خوښه یې ده او که نه د الله تعالی فرمان منونکئ دی،حتی انسان هم په تکویني کارونو کې په مطلق ډول د الله تعالی د حکم اوفیصلي پابند دی،او د الله تعالی حکم ته ئې غاړه ایښې ده، که خوښه ئې ده او که نه مثلاً دا د الله تعالی خوښه ده چې نر ئې پیدا کوي که ښځه،جګ که ټیټ،روغ که معیوب،موړ که غریب،د چا ځوی یا لور او په کومه کورنۍ کې ئې پیدا کوي،تور که سپین،بدرنګ که ښایسته،کله ئې پیدا کوي او کله ئې مړ کوي،وړوکی ځوانوي او ځوان زړوي او داسې نور ډېر مثالونه،دا ټول هغه شیان دي چې که د انسان خوښه ده او که نه انسان ئې پرته د چون او چرا نه مني،او فرضاً که هرڅومره ووایې چې نه ئې منم ،مثلاً وایې چې نه غواړم چې ځوړ شم یا مړشم خو نه ورته دا اختیار شته چې ځان د ځوړوالي یا مرګ څخه خلاص کړي او نه څه کولای شي،که زړه ئې دی او که نه دواړه به قبلوي او د الله تعالی فیصله به مني،دا وو تکویني اوامر چې انسان په کې بې اختیاره دی لکه د لمر او سپوږمۍ په شان .مګر یوازې په تشرعي امورو کې الله تعالی انسان ته اختیار ورکړئ دی هغه هم د دې دپاره چې امتحان ترې واخلي ،او د ملائیکو،لمر،سپوږمۍ و غیره سره د انسان فرق همدا دی چې په تشرعې کارونو کې اختیار لري،مثلاً الله تعالی انسان ته حکم کوی چې دروغ مه وایه،خو د دې اختیار ئې هم ورکړئ دی چې کولای شي چې دروغ ووایې،دا د انسان خپله خوښه ده چې دروغ وایي که نه،الله تعالی په کې کار نه لري نه ئې مجبوروي چې دروغ ووایه او نه ئې مجبوروي چې دروغ مه وایه.یا الله تعالی حکم کوي چې:ظلم مکوئ،غلا مه کوئ،کفر مه کوئ،شراب مه څکئ او نور نو د دې ټولو د کولو اختیار ئې هم انسان ته

ورکړې دی نور نو د انسان خپله خوښه ده چي:ظلم،غلا او کفر کوي او که نه،نور نو الله تعالی په کې کار نه لري ،نه ئې مجبوروي چې غلا ،ظلم او کفر وکړي او نه ئې مجبوروي چې ویې نه کړي.البته د کولو ګناه او د نه کولو ثواب الله تعالی د پیغمبرانو او علماوو پواسطه انسان ته ورښودلی دي) وَإِلَيۡهِ او هغه جل جلاله ته يُرۡجَعُونَ هغوی ورګرځول کیږي. ﴿٨٣﴾

قُلۡ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ عَلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ ﴿٨٤﴾

قُلۡ ووایه(ای محمد صلی الله علیه وسلم کتابیانو ته) ءَامَنَّا مونږ ایمان راوړې دی بِٱللَّهِ په الله تعالی باندې وَمَآ او په هغه څه أُنزِلَ چي نازل شوي دي عَلَيۡنَا په مونږ باندې(قرآنکریم) وَمَآ أُنزِلَ او په هغه څه چې نازل شوي دي عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ په ابراهیم علیه السلام باندې(چې لس صحیفي دي) وَإِسۡمَٰعِيلَ او په اسماعیل علیه السلام وَإِسۡحَٰقَ او په اسحق علیه السلام وَيَعۡقُوبَ او په یعقوب علیه السلام وَٱلۡأَسۡبَاطِ او په اولاد (د دوی) باندې وَمَآ او په هغه څه (باندې مو ایمان راوړې دی) أُوتِيَ چې ورکول شوې دی مُوسَىٰ موسی علیه السلام ته (چې تورات دی) وَعِيسَىٰ او عیسی علیه السلام ته (چې انجیل دی) وَٱلنَّبِيُّونَ او( نورو) پیغمبرانو ته (چې نور آیاتونه دي) مِن رَّبِّهِمۡ د هغوی د رب د طرفه لَا نُفَرِّقُ (او کتابیانو ته ووایه چې:) مونږ فرق نه کوو بَيۡنَ أَحَدٖ په منځ د هیڅ یو مِّنۡهُمۡ د هغوی( پیغمبرانو) کې (یعنی مونږ ټول پیغمبران منو،او د کتابیانو«یهود او نصاراوو» پشان نه د کوم پیغمبر پسې بدې خبرې کوو او نه ترې انکار کوو،لکه تاسو چې سلیمان علیه السلام ته نعوذبالله جادوګر وایئ او د محمد صلی الله علیه وسلم څخه

انکار کوئ ) وَنَحۡنُ او مونږ لَهُۥ هغه جل جلاله ته مُسۡلِمُونَ غاړه ایښودونکي یو. ﴿٨٤﴾

وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٨٥﴾

وَمَن او هر څوک يَبۡتَغِ چې هغه غواړي غَيۡرَ پرته ٱلۡإِسۡلَٰمِ د اسلام څخه دِينٗا «بل» دين فَلَن يُقۡبَلَ نو هغه(بل دين) به هیڅکله نه قبلیږي مِنۡهُ د هغه څخه (نه په دنیا کې او نه په آخرت کې) وَهُوَ او دغه (کس) فِي ٱلۡأٓخِرَةِ په آخرت کې مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ د تاوانیانو څخه دی. ﴿٨٥﴾

كَيۡفَ يَهۡدِي ٱللَّهُ قَوۡمٗا كَفَرُواْ بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ وَشَهِدُوٓاْ أَنَّ ٱلرَّسُولَ حَقّٞ وَجَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٨٦﴾

كَيۡفَ څنګه به يَهۡدِي هدایت کوي ٱللَّهُ الله تعالی قَوۡمٗا یو(داسې) قوم ته كَفَرُواْ چې هغوی کافران شوي دي بَعۡدَ وروسته إِيمَٰنِهِمۡ د هغوی د ایمان راوړلو څخه وَ حال دا چې شَهِدُوٓاْ هغوی شاهدي ورکړې وه أَنَّ ٱلرَّسُولَ چې بیشکه دا رسول«محمد صلی الله علیه وسلم» حَقّٞ حق دی(یعنی په رښتیا سره دا علیه السلام هماغه پیغمبر دی چې د ده علیه السلام د راتلو څخه مخکې د تورات او انجیل څخه مونږ دا علیه السلام منلئ او ایمان مو پرې راوړئ دی ) وَجَآءَ او راغلي دي هُمُ هغوی ته ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ روښانه(دلایل او معجزې د محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت په ثبوت: چې دا هماغه پیغمبر دی چې کتابیانو د ده علیه السلام د راتلو څخه پخوا پرې ایمان راوړئ وو،او کله به یې چې د کافرانو سره جنګ وو نو الله تعالی ته به یې دعاګاني کولي

چې یا الله د نبي اخر زمان په خاطر مونږ ته په کافرانو باندې فتح او کامیابي راکړي،صفتونه به یې کول،او دا علیه السلام به یې د ځان ښخه شمارلو،او خلکو ته به یې ویل چې مونږ به د هغه علیه السلام ملګري کیږو،لیکن کله چې هغه علیه السلام الله تعالی د بني اسماعیلو په خاندان کې راولیږلو نو کتابیانو«یهود او نصاراوو»ترې انکار او کفر وکړو،او د ډېرو زیاتو ثبوتونو سره-سره یې قصداً ترې انکار وکړو. ) وَٱللَّهُ او الله تعالی لَا يَهۡدِي نه کوي هدایت ٱلۡقَوۡمَ قوم ٱلظَّٰلِمِينَ د ظالمانو ته ﴿٨٦﴾

أُوْلَٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمۡ أَنَّ عَلَيۡهِمۡ لَعۡنَةَ ٱللَّهِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴿٨٧﴾

أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک(چې د ایمان راوړلو نه وروسته سره د پوهې اسلام پریږدي او قصداً بیرته کافر کیږي) جَزَآؤُهُمۡ جزا د دوی(دا ده) أَنَّ چې بیشکه عَلَيۡهِمۡ په دوی باندې لَعۡنَةَ ٱللَّهِ لعنت د الله تعالی دی وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ او( لعنت) د فرشتو وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ او (لعنت) د ټولو انسانانو دی ﴿٨٧﴾

خَٰلِدِينَ فِيهَا لَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنظَرُونَ ﴿٨٨﴾

خَٰلِدِينَ تل به وي فِيهَا په دغه«لعنت یا دوزخ» کې لَا يُخَفَّفُ نه سپکیږي (نه کمیږي) عَنۡهُمُ د دوی نه ٱلۡعَذَابُ عذاب وَلَا هُمۡ او نه دوی ته يُنظَرُونَ مهلت ورکول کیږي.

«نه د عذاب په شدت کې د کموالي احساس کوي،نه ئې د يو لږ وخت دپاره عذاب معطل کيږي،او نه د لږ وخت دپاره ارام او هوسا کيږي» ﴿٨٨﴾

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ وَأَصۡلَحُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴿٨٩﴾

إِلَّا ٱلَّذِينَ مګر هغه خلک تَابُواْ چې توبه يې وښکله(بيرته اسلام ته راوګرځيدل) مِنۢ بَعۡدِ ورروسته د ذَٰلِكَ دې(مُرتد کيدلو يا د دين څخه د اوښتلو نه) وَأَصۡلَحُواْ او نيک يې کړل (عملونه خپل) فَإِنَّ ٱللَّهَ نو بيشکه الله تعالى غَفُورٞ ډېر ښوونکئ رَّحِيمٌ (او) رحيم دى. ﴿٨٩﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بَعۡدَ إِيمَٰنِهِمۡ ثُمَّ ٱزۡدَادُواْ كُفۡرٗا لَّن تُقۡبَلَ تَوۡبَتُهُمۡ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلضَّآلُّونَ ﴿٩٠﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ بيشکه هغه خلک كَفَرُواْ چې هغوى کافران شوي دي بَعۡدَ ورروسته إِيمَٰنِهِمۡ د هغوى د ايمان راوړلو څخه ثُمَّ بيا يې ٱزۡدَادُواْ كُفۡرٗا زياتوالئ وکړو په کفر کې(د مسلمانانو د اسلام نه د اړولو کوشش کوي،د خلکو په زړونو کې د اسلام نه نفرت او شکونه پيدا کوي،او هميشه مسلمانانو ته د ضرر رسولو کوشش کوي) لَّن تُقۡبَلَ (هيڅکله) به نه قبليږي تَوۡبَتُهُمۡ توبه د هغوى وَأُوْلَٰٓئِكَ او دغه خلک هُمُ همدوى ٱلضَّآلُّونَ ګمراهان دي. ﴿٩٠﴾

د علماوو غوره رايه دا ده ،که چيرته څوک د ايمان راوړلو څخه ورروسته بيرته کفر اختيار کړي،او بيرته ايمان رانوړي،نو د مرګ په وخت کې کله چې ساه مرئ ته راورسيږي نو په دې وخت کې توبه نوره نه قبليږي، او يا د مرګ نه ورروسته بيا توبه نه قبليږي.لکه په ورسته آيت کې فرمايي

چې څوک د کفر په حالت کې مړشی نو که د ټولي دنیا په اندازه سره زر هم په فدیه کې ورکړي نه قبلیږي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَمَاتُواْ وَهُمۡ كُفَّارٞ فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡ أَحَدِهِم مِّلۡءُ ٱلۡأَرۡضِ ذَهَبٗا وَلَوِ ٱفۡتَدَىٰ بِهِۦٓۗ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٩١﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ بیشکه هغه خلک چې كَفَرُواْ چې کافران شوي دي وَمَاتُواْ او مړه شوي دي وَ په داسي حال کې هُمۡ كُفَّارٞ چې دوی کافران دي فَلَن يُقۡبَلَ نوقبول به نشي مِنۡ أَحَدِهِم د هیڅ یو د دوی څخه مِّلۡءُ ډکه ٱلۡأَرۡضِ ځمکه ذَهَبٗا سره زر وَلَوِ که چېرته ٱفۡتَدَىٰ هغه(شخص) فدیه ورکړي بِهِۦٓۗ هغه(ډکه ځمکه سپین زر) أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک لَهُمۡ دوی ته عَذَابٌ عذاب أَلِيمٞ دردناک دی وَمَا لَهُم او نشته دوی ته مِّن نَّٰصِرِينَ (څوک) د کومک کونکو څخه(چې عذاب ترې کم کړي) ﴿٩١﴾

ډاکټر محمد عثمان نظامي